# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۲۸) ګڼه / پنجشنبه ۲۵ رجب المرجب ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲۷ دلو ۱٤۰۱ هـ.ش / ۱٦ فبروري ۲۰۲۳ میلادي


## له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو د وتلو څلوردیرشمې کلیزې په مناسبت د اسلامي امارت اعلامیه

له نن څخه ۳۴ کاله وړاندې (۲۶/۱۱/۱۳۶۷هـ ش) د وخت شوروي اتحاد یرغلګر ځواکونه دې ته اړکړل شول چې افغانستان پرېږدي او خپل اشغال پای ته ورسوي.

د افغانستان اسلامي امارت د دې ستري ورځې په مناسب چې زموږ د ویاړلي ملت د جهاد، سرښندونو او قربانیو په نتیجه کې یو اشغالګر ابرقدرت ماتې وخوړه، ټول ولس ته مبارکي وایي او زموږ د تاریخ یوه ویاړمنه ورځ یې بولي.

دا هرڅه د الله تعالی د دین برکت وو چې افغانانو د الله جل جلاله په دین باندې منګولی لګولې وې، د الله جل جل جلاله څخه غوښتنه کوو چې ټول تر پای پورې په خپل دین باندې ټینګ ولري.

افغانستان تل... ۷مخ

## د شوروي یرغل ماته د دلوې ۲۶مه په ټول هېواد کې ونمانځل شوه

د دلوې ۲۶مه، (له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو د ماتې او وتلو) ورځ پرون د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې، د ملي راډیو ټلویزیون د غونډو په تالار کې ونمانځل شوه. دباختر آژانس خبریال د خبر له مخې؛ په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې، د افغانستان اسلامي امارت د کابینې یو شمېر غړیو، ملکي او پوځي مسئولینو او مجاهدینو ګډون کړی و. په دې غونډه کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور وویل: د افغانستان خلکو د الله تعالی په نصرت، د نړۍ له درېو سترو اشغالګرو آزادي اخیستې ده او باید موږ د الله (ج) د دغه لوی نعمت شکر ادا کړو... ۵مخ



## د افغانستان او ایران د روغتیا وزیرانو د ګډو روغتیایي همکاریو د زیاتوالي په اړه خبرې وکړې

د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد له خپل ایراني سیال ډاکټر عین الاهي سره وکتل.

په دې کتنه کې چې په ایران کې د افغانستان لوی سفیر، مولوي فضل محمد حقاني هم ګډون کړی و، د دواړو لوریو ترمنځ په روغتیایي سکتور کې د دوه اړخیزو همکاریو ترڅنګ په بامیان کې د زرو ناروغانو ۲۰۰ بستریز اختصاصي روغتون، په کابل کې د سرطان د درملنې اختصاصي مرکز، په روغتیایي سکتور کې د روغتیایي پرسونل د روزنې، د افغان کډوالو د روغتیا او د سترګو د ناروغیو د درملنې په برخه کې پر همکاریو بحث او خبرې اترې وشوې... ۷مخ

## د ګمرکونو عواید په بې ساري ډول زیات شوي دي

د مالیې وزارت وایي، د هېواد په ګمرکونو کې عواید زیات شوي دي. د دغه وزارت شمېرې ښیي، چې د ننګرهار ګمرک عواید د تېر کال په پرتله اتیا سلنه زیات شوي او په تېرو لسو میاشتو کې... ۷مخ

## سرمقاله

## زموږ په تاریخ کې د خپلواکۍ تکراري ورځې او راتلونکې ذمه واري

نن د دلوې شپږویشتمه یو ځل بیا له افغانستانه د بهرنیو یرغلګرو ځواکونو د وتلو له ورځې سره سمون خوري دا د شوروي ځواکونو د وتلو څلور دېرشمه کلیزه ده. شورویانو د (۱۳۵۸) هـ ش کال د جدی په شپږمه زموږ پر هېواد یرغل وکړ او ترنه کاله او پنځوسو ورځو خورا سختو جګړو وروسته چې هم افغانستان پکې کنډواله او یونیم میلیون وګړي یې ووژل شول او هم زرګونه شوروي عسکر پکې مړه او ژوبل شول، بیرته زموږ له هېواده ووتل خو د افغانستان له تباهۍ سره دوارسا تړون هم له منځه ولاړ، شوروي اتحاد رنګ شو، د منځنۍ آسیا هېوادونه خپلواک او د کمونیزم نظریه له نړۍ ورکه شوه. زموږ له هېواده د شوروي ځواکونو وتل پرته له شکه د افغان مجاهد ملت لپاره خورا ستره فتحه، تاریخي ویاړ او په ګرده نړۍ کې سرلوړي وه. خو له بده مرغه همدې ظالمانه یرغل ته بیا هم یو شمېر خاینو او غولېدلو افغانانو لار جوړه کړې وه. ځکه د شوروي ترمستقیم یرغله یو کال او اته میاشتې رومبی لادلته د مارکس اولنین د شاګردانو له خوا د داودخان حکومت له منځه وړل شوی او تر هغه وروسته بیا شوروي ځواکونه راورسېدل. دغه راز د شوروي ځواکونو تروتلو وروسته بیا هم درې کاله او یا ورځې وروسته لا هم هماغه شوروي کېنولی رژیم د ډاکټر نجیب په مشرۍ کابل کې واکمن و. او دا لاځه چې د کمونیستانو تر پوره خوارلس کلنې واکمنۍ وروسته چې په دویم پړاوکې (۱۳۷۱ هـ ش) کال د ثور په اتمه ظاهراً د کابل په ارګ د مجاهدینو واکمني منځ ته راغله. لاهم په هېواد کې ترڅلورو کلو او پنځو میاشتو پورې د شورویانو په لاس جوړې شوې ملېشې هماغسې په خپل قوت پاتې او د ایران، روسیې، هند، فرانسي او ځینو نورو هېوادونو له خوا پوره اکمالېدل تریادی مودې وروسته ایله په دریم پړاوکې د (۱۳۷۵ هـ ش) کال د میزان په شپږمه د طالبانو اسلامی تحریک په مشرۍ افغان ولس وکړی شول چې د کابل په شمول هېواد له (۹۰) سلنې خاورې نوموړې ملېشې له واکه لیرې، امنیت ټینګ او د ملوک الطوایفی مخه ونیسي او د یو پیاوړي مرکزي نظام بنسټ کېږدي. خو بیا هم له بده مرغه د یادو ملیشو ستړه پوره ونه وېستل شوه او د هېواد په شمال ختیځه برخه کې پښې ټینګې کړې وې. یادو خاینو ډلو په همدې موده کې په ټوله کفري نړۍ کچکول وګرځاو او هر ګبرو تر سایې زموږ پر هېواد یرغل کولوته وهڅاو. تردې چې بالآخره صلیبیانوته څه ناځه پلمه په لاس ورغله او په کابل کې د اسلامی امارت تر پنځه کاله او پنځه څلوېښتو ورځو واکمنۍ وروسته یو ځل بیا هماغه روس پلوې ملیشې او پخوانې کمونیستان د اته څلوېښتو صلیبي هېوادو له نظامي ځواکونو سره اوږه پر اوږه د ځمکې او هواله لارو پر ټول هېواد واکمن شول او تر (۸۲) ورځو کم شلو کلو پورې یې هېواد اشغال کړی و. تریادې مودې وروسته (۱۴۰۰ هـ ش) کال د اسد په څلورویشتمه، صلیبي اشغال هم پای ته ورسیده او په دی توګه موږ په یوه پیړی کې د ننه د انګریزانو، شورویانو او ناټو خېلو د اسد اته ویشتمه، د اسد څلورویشتمه او د دلوې شپږویشتمه درې د خپلواکۍ ورځې لرو او هر کال یې لمانځو. دا که څه هم له یوې خوا د افغان ولس لپاره زښته ډېر لوی ویاړدی چې یوه پېړۍ کې د ننه یې دریو ځواکمنو نظامي لښکرو سره ډغره وهلې، سریې نه دی ورته ټیټ کړی او د هغوی فرمایشات او رواجونه یې نه دي منلي. خو بل لورته بیا زموږ د مشرانو د سیاسي خامۍ، بې تدبیرۍ او بې بصیرتۍ یو ثابت دلیل او ښکاره نښه هم ده. ځکه د دریو واړو یرغلونو کې یو شمېر افغان سیاسي مشران له پردیو سره ملګري شوي او په نتیجه کې... ۷مخ


## تخار کې په نشه یي توکو د روږدو کسانو د درملنې روغتون بېرته فعال شو

شریعت: تخار ولایت کې په نشه یي توکو د روږدو کسانو د درملنې ۴۰ بستریز روغتون له دوو کلونو ځنډ وروسته بېرته فعال شوی دی.

د تخار د عامې روغتیا رییس ډاکټر عبدالقهار احمدي وایي، چې دغه روغتون په تېرو دوو کلونو کې د بودیجې د کمښت له امله غیر فعال و، چې اوس د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ ... ۷مخ

## کمک نقدی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات با زلزله‌زدگان ترکیه

مراسم رسمی به سرقنسول جمهوری ترکیه در هرات تحویل داده شد... ص۷



به ادامه کمک‌های بشردوستانه از افغانستان، این‌بار اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات بیش از ۵۰ هزار دالر به زلزله‌زدگان ترکیه کمک کرده است. این بسته کمکی طی

## بازداشت ۲۶ تن در پیوند به جرایم مختلف از سوی پولیس

شریعت: بیست و شش تن به اتهام قتل و سرقت در پنج ولایت کشور از سوی پولیس بازداشت شدند.

وزارت امور داخله روز گذشته با نشر این خبر گفت: منسوبین پولیس در بیست چهار ساعت... ص۷

## اقتصاد وزارت: د پاکستان اقتصادي کړکېچ به پر افغانستان اغېز ونه کړي

یو شمېر اقتصادي کارپوهان په دې باور دي، چې په پاکستان کې د مالي بحران او اقتصادي ننګونو زیاتوالی به د افغانستان پر اقتصاد ناوړه اغېز وکړي. خو د اقتصاد وزارت وایي، اسلامي امارت هڅه کوي چې د پاکستان اقتصادي ستونزې پر افغانستان منفي اغېز ونه کړي. د اقتصاد وزارت مرستیال عبداللطیف نظري وایي، په سیمه کې هر ډول سیاسي، اقتصادي او امنیتي کړکېچ د افغانستان پر سیاسي او اقتصادي وضعیت منفي اغیز کولی شي، خو سم مدیریت، پلان جوړول او کره پالیسي ددې... ۷مخ

د جاپان سفیر:

## جاپان له افغانستان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکوي

شریعت: د لوړو زده کړو وزارت سرپرست مولوي نداء محمد ندیم په افغانستان کې د جاپان له سفیر تاکاشي اوکاتا سره وکتل.

ندیم د جاپان سفیر ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل چې دواړه هېوادونه د ښو اړیکو اوږده مخینه لري او جاپانیانو هر وخت د افغانانو لاسنیوی کړی دی.

نوموړي د دواړو هېوادونو تر منځ پر ښو تحصیلي اړیکو او له یو بل سره د علمي... ۷مخ

## روغتیا سازمان ایران کې د افغان کډوالو لپاره یوه پروژه پیل کړې




د روغتیا نړیوال سازمان په ایران کې د دېره افغان کډوالو د روغتیایي وضعیت د ښېګنې په هدف یوه پروژه پیل کړې ده. د ملګروملتونو اړوند د روغتیا نړیوال سازمان یا WHO هغه پروژه پیل... ۷مخ

## له کابل ښاره تر اوسه ۲۸۴۳۳ سوالګر راټول شوي دي

د ریاست الوزرا د اقتصادي مرستیال دفتر وایي، د یاد ریاست د سوالګرو راټولولو کمېټې تر دې دمه له کابل ښار څخه ۲۸۴۳۳ سوالګر راټول کړي. یاد ریاست په خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې د راټول شویو سوالګرو له ډلې ۱۲۲۷۲ ښځینه دي چې تر ارزونې وروسته یې ۵۶۱۷ مستحقې او ۶۶۵۵ یې بیا حرفوي سوالګرې پېژندل شوې دي. اعلامیه زیاتوي چې ۳۷۱۶ نور نارینه دي چې تر ارزونې وروسته یې ۱۱۹۳ مستحق ګڼل شوي او ۲۵۲۳ بیا حرفوي سوالګر دي. په راټولو شویو سوالګرو کې بیا ۱۲۴۴۵ ماشومان دي چې له ډلې یې ۴۳۵۹ مستحق... ۷مخ

## لغمان کې دوه روغتیایي پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

لغمان کې د PU-AMI موسسې په مالي ملاتړ د الیشنګ ولسوالۍ د اسلام آباد په اساسي روغتیایي مرکز کې د قابلې لپاره د اوسېدو کور او د بارکزایو فرعي او روغتیایي مرکز تاسیس د ۲ میلیونه ۳۷۸ زره ۲۵۰ افغانیو په لګښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د دغه پروژو د پرانیستلو پر مهال د دغه ولایت عامې روغتیا رئیس ډاکټر سمیع الله عابد وویل، چې د یادو پروژو په پلي کېدو سره به شاوخوا ۲۵ زره کورنیو ته روغتیایي... ۷مخ

## د سلواغې ۲۶مه؛ په خپلواکۍ کې د ازادۍ ورځ!

۳ مخ

## ۲۶ دلو روز نجات افغانستان از چنگال ارتش سرخ

۲ مخ

## د سلواغې ۲٦ مه او د وږي ۹ مه د افغان ولس د خپلواکۍ ورځې

٤ مخ

## هلمند کې د ۳ میلیونو افغانیو په لګښت یو سړک رغول کېږي



شریعت: د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ مرکز بازار اړوند سیمه کې د ۳ میلیونو افغانیو په لګښت د ۱.۵ کیلومتره سړک د پخولو چارې پیل شوې دي.

د یاد سړک د پرانیستلو پر مهال د نادعلي ولسوالۍ ښاروال مولوي شیر محمد رحماني وویل... ۷مخ

## ساخت ۷ شبکهٔ آبرسانی به هزینهٔ ۴۴ میلیون افغانی در ارزگان

شریعت: مسئولان محلی ارزگان می‌گویند که کار هفت شبکه آبرسانی در این ولایت به هزینهٔ چهل و چهار میلیون و دوصد و نود و هشت هزار و سه صد و چهل و سه افغانی تکمیل و به بهره برداری سپرده شده است. از میان شبکه‌های ... ص۷




سالمزی

زما نظر دادی چې د سلواغې ۲۶ مه، د زمرې ۲۸ مه، دوړی نهمه او د غوایې اتمه د افغانستان په تاریخ کې هغه له ویاړ او برمه ډکې ورځې دي چې تاریخ به یې هیڅکله هم له یاده و نه باسي او راتلونکي نسلونه به د خپلو پلرونو او نیکونو په دغه تاریخ جوړوونکو کارنامو فخر کوي، موږ باید له دغه حماسه زیږونکو کیسو درس او عبرت واخلو خپل استقلال وساتو او د دغه ورځو درناوی وکړو په یووالي او خوښۍ سره یې په شانداره مراسمو سره ولمانځو او د خپلو اسلافو د میړانې او شهامت ویاړ او یاد یوځل بیا را تازه کړو او نړیوالو ته ثابته کړو چې افغانان یواځې د توري اتلان نه بلکې په لویو امپراطوریو د واکمنۍ او هغوی ته د تمدن د انتقال ویاړ هم لري او د نړۍ زیات شمیر هیوادونه چې اوس مستقل دولتونه دي او زموږ د قربانیو په پایله کې یې د استعماري طاقتونو له جغ څخه آزادي خپله کړې زموږ پوروړي دي د بیلګې په توګه د هند په آزادۍ کې د سید جمال الدین افغان نقش او رول باید له پامه ونه غورځول شي. همدا رنګه د روسي اشغالګرو په مقابل کې د افغان مجاهدینو جهاد او میړانه چې بالاخره د لس کلنې اوږدې مبارزې او جهاد په پایله کې روسي ځواکونه تېښتې ته اړکړل باید وستایل شي چې د وخت شوروي اتحاد یې په روسیه بدل کړ او سوپر طاقت یې د صفر تر کچې را ټیټ کړ خوله بده مرغه چې ددغه جهاد مثمره نتیجه (اسلامي نظام) په نفاذ کې بیا هم د شرق او غرب دواړو استکباري طاقتونو د دسیسو او د هغوی له لوري د ځینو روزل شوو ایجنټانو چې زموږ ملت کې یې قومي ریښې درلودي په لومو کې راښکیل او د دغه مهم هدف په لار کې خنډونه او ستونزې ایجاد شوي او په دې بریالي نشول چې په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم شي. خو یو مهم هدف چې د هیواد خپلواکي وه هغه موترلاسه کړه او ۲۶ نور محکوم هیوادونه مو د سوربښامارله کومي راوایستل. د نړۍ له کرې څخه د کمونیزم جنازه پورته شوه دوارسا پکټ مات شو د برلین دیوال ونړید چې دا د افغان مجاهدینو د جهاد پایله وه، د شوروي اتحاد په رنګیدو سره توره ایره چې د سوربښامار له ویرې په غار کې پټه په کمین کې وه په افغان مجاهدینو دغه وخت چې بل سیال یې نه درلود، د برید تا بیه ونیوله چې ګواکې افغانان نورله جنګ ستړي شوي او نور توان نلري چې زموږ مقابله وکړي د یوې جعلي دسیسې په پلمه چې د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپټمبر په ۱۱ مه په امریکا کې رامنځ ته شوه، په افغانستان برید وکړ د هغه وخت د طالبانو واکمني یې رنګه کړه او د شمالي ټلوالې په ملاتړ یو ګوډاګی د امریکایي حمایت نه برخمن دوه سري د ولت رامنځ ته شو په مقابل کې یې بیا طالبانو خپلې لیکې منظمې کړې او د امریکا او ناټو ایتلاف پرضد یې خپل عملیات پیل کړل چې د شل کلنې اوږدې جګړې په پایله کې امریکا او ناټو مجبوره شوه زموږ له هیواده خپلې پښې وباسي چې دا د یوې پیړۍ په لړ کې د دري سترو امپراطوریو د ماتولو ویاړ الله رب العزت یواځې افغانانوته ورپه برخه کړ نولازمه چې زموږ د مجاهدینو دغه قربانۍ بیا بیزه ونه ګڼل شي قدریې وشي معامله پري ونشي د خپل ځوریدلي او مجاهد ملت د قربانیو درناوی وشي خپل دغه مجاهد ولس ته غیږ پرانیزي په زخمونو یې مرهم کیږدي غوښتنوته یې ځواب ووایې او پوښتنوته یې غوږ کیږ دي زموږ مؤمن او قهرمان ملت د اشغالګرو په مقابل کې بې ساري قرباني ورکړي او د دغه قربانیو په پایله کې یې خپل ګران او محبوب هیواد، د پردیو له ناولو منګولو ژغورلی او خپل ویاړلی ملت ته یې استقلال او آزادي ګټلې پکار ده چې د خپل مجاهد ملت د قربانیو قدر دانی وشي د سلواغې ۲۶ مه چې د شوروي اتحاد د بدمسته سرو لښکرو څخه زموږ د هیواد، د خپلواکۍ له ۳۴مې کلیزې سره برابره ده خپل مجاهد ملت ته مبارکي وایم. لکه چې وایې آزادي په تشو خبرو نه اخستل کیږي له روسي ښکیلاګرو څخه مو دغه آزادي د یونیم میلیون شهیدانو په ورکولو او د لسګونو زره مجاهدینو د اعضاؤ په قربانۍ ترلاسه کړې لکه چې شاعر وایې:

داوطن موځه په سوال ګټلی ندی
هر یو کاڼی یې زما په وینو رنګ دی

په دغه نابرابره جنګ کې یواځې افغان مجاهدینو ځاني او مالي زیان ندی اوښتی بلکې روسي ځواکونوته هم درانده مالي او جاني زیانونه واوښتل د نړیوالو رسنیو له قوله په دې لس کلن جنګ کې ۱۳۵۰۰ روسي عسکر مردار، ۳۵۷۰۰ یې ټپیان او ۳۱۱ تنه یې د مجاهدینو له لوري اسیر نیول شوي دی. د ۵۰۰۰ زره په شاوخوا کې زرهي ټانکونه او نقلیه وسایط له منځه تللي او ۶۰۰ فرونده جنګی الوتکې او چورلکې هم تخریب او لمنځه تللي او د میلیونونو ډالرو په لګښت اقتصادي زیانونه ورواوښتل او بالاخیره زموږ له هیواده تیښتې ته اړکړل شول چې د سلواغې په ۲۶ مه زموږ له هیواده وروستی روسي عسکر د حیرتان د پله له لارې چې د مجاهدینو بریدونو پرې دوام درلود له اوښکو ډکې سترګې زموږ له خاورې سرټیټي ووتل او مجاهدین بریالي پلازمینې کابل ته ننوتل او د هند د بحر ګرمواوبوته یې د ځان رسولو ارمان همداسې نیمګړی پاتې شو لکه چې شاعر وایې:

ګونډوشو په ګونډوشو ټول جهان کې په ګونډوشو
د ګرمو اوبو پوري طرحه پلان کې په ګونډوشو

# ۲۶ دلو روز نجات افغانستان از چنگال ارتش سرخ

میلاد احسان

۲٦ دلو مصادف است با روز نجات ملی و خروج ارتش سرخ اشغالگر اتحاد جماهیر شوروی وقت از افغانستان، یکی از آن یادگاریست که به عنوان مقاومت،پایداری و پیروزی بزرگ ملت سلحشور افغانستان همیشه در دل تاریخ به خط زرین حک شده است. تاریخ کشورما در ادوار مختلف شاهد جنبش های متکی به اراده جمعی و مردم این سرزمین در برابر متجاوزین خارجی بوده اند. تهاجم، اتحاد جماهیر شوروی وقت بتاریخ ٦ جدی سال ۱۳۵۸خورشیدی بخاطر طرفداری از همکیشان خود،اردوی صد هزار نفری خویش را در کشور ما پیاده کرد که با وارد شدن قوای سرخ اتحاد شوروی وقت به کشورما مردم غیور و باعزت افغان در سراسر کشور با متانت و پایمردی کامل علیه این قشون سرخ و اشغالگر به پا خاستند و تا پای جان از استقلال، آزادی، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی وطن خویش دفاع کردند و در زمینه از هیچگونه جانبازی دریغ نکردند. روس‌ها در برابر قیام های زیاد مردم دلیر افغانستان دیگر توان ادامه اشغال افغانستان را ازدست دادند و بعد از سپری شدن مدت نه سال اشغال افغانستان با شرمساری و با بجا گذاشتن سنگین ترین تلفات جانی و مالی خاک حماسه آفرین کشورما را ترک کردند و بدون اینکه به عقب بنگرند از راهی که آمده بودند به کشور خویش برگشتند.تجاوز اردوی سرخ ضمن اینکه ساختار جامعه ما را متلاشی ساخت و مسیر انکشاف کشورما را نیز به بن بست کشانید، بیش از دومیلیون هموطن ما را شهید و تعدادکثیری معلول و معیوب را در کشور بجا گذاشتند و بیش از چهارونیم میلیون اتباع افغانستان را واداشت تا به کشور های بیگانه مهاجر گردند. مشکلات فراوان ناشی از تجاوز قشون سرخ در کشور ما تا قرن ها میراث آینده گان خواهد بود. اگر به تاریخ باستانی ما نظر اندازی گردد،ما قبل از کودتای هفت ثور ۱۳۵۸خورشیدی همه چیز داشتیم،تجارت ما رونق داشت و امنیت در دورترین نقاط افغانستان تامین بود.اما به اثر تجاوز قشون سرخ این همه دستآورد های چندین ساله کشور را به سادگی از دست دادیم در این زمان که بریژنیف در گذشته بود و قدرت به میخائیل سرگیویچ گورباچف متمرکز شده بود موقع آن رسید تا قوای اشغالگر پایش را به شکلی از اشکال از افغانستان بیرون بکشد. گورباچف اشغال نظامی افغانستان را که به هدایت بریژنیف صورت گرفته بود اشتباه خواند و به این حقیقت باورمند شدند که افغانستان را نمیتوان تحت سلطه خویش قرارداد. بادرنظرداشت نقاط متذکره بود که قوای اتحاد شوروی وقت از افغانستان بتاریخ ۲٦ دلوسال۱۳٦۷ که مصادف به پانزدهم فبروری ۱۹۸۹میلادی میباشد بیرون شدند آنها پل حیرتان را بطرف ترمز ترک نمودند و ملت دلیر و مجاهد افغان با تمام شهادت و دادن قربانی ها علیه اشغالگران ایستادند و حکومت مجاهدین را در افغانستان روی کار کردند.ولی باتاسف که بعداز پیروزی مجاهدین در کشور آتش جنگهای داخلی ،تنظیمی و گروهی شعله‌ور شدو افغانستان خصوصآ کابل در اثر جنگهای داخلی به مخروبه مبدل شد و مردم بیدفاع کابل هست و بود شانرا در این جنگلها از دست داده و عده‌یی هم به کشور های همسایه متواری گردیدند.خوشبختانه بعد از سپری شدن پنج سال مبارزه و از خود گذری تحریک اسلامی طالبان کرام علیه حکومت شروفساد به پیروزی رسید و نظام اسلامی استقرار یافت، صلح و آرامش سراسری در تمامی جغرافیای افغانستان تامین شد ،بی عدالتی، فساد ،دزدی و غارت اموال مردم خاتمه یافت و نظام ناب اسلامی رویکارآمد و مردم افغانستان در فضای صلح و امن زندگی خویش را بدون تشویش ادامه دادند.خروج نظامی اتحاد شوروی وقت از سرزمین افغانستان یک پیروزی عظیم نظامی،سیاسی و یک خاطره فوق العاده تابناک و فراموش ناشدنی برای ملت مجاهد افغانستان پنداشته می شود.



# کشتار دسته‌جمعی در «تله‌ی خرس»

محمدصادق طارق

زمانی‌که هند فقط به خاطر منافع سیاسی خود از حکومت کابل حمایت می‌کرد روس جهت تقویت حکومت کمونیست در افغانستان از هیچ نوع حمایت سیاسی، نظامی و اقتصادی دریغ نمی‌ورزید. برتر از این، جنگ افغانستان دارای چنان نقطه‌ی عطف مهم از زاویه جنگ سرد بود که به دلیل روند طولانی‌اش به جنگ «ویتنام شوروی» تشبیه داده و به اسم «تله‌ی خرس» نامیده شد. شوروی از قبل تصور نمی‌کرد که در باتلاق افغانستان توان مبارزه نمودن با ایمان، عقیده و احساسات دینی و اسلامی ملت افغانستان را ندارد و نمی‌پنداشت که در امواج متلاطم یک جنگ طولانی مدت فرو می‌رود. به همین دلیل جهت بیرون‌رفت از «تله‌ی خرس» استراتژی‌های گوناگون را روی دست گرفت که کشتار دست‌جمعی مقام اول لیست را از خود کرده بود. استراتژی مذکور که نابودی دهکده‌ها، اراضی کشاورزی و محصولات زمینی را در پی داشت به هدف از بین بردن روستاهای نزدیک به مقرهای چریکی مجاهدین توسط بمباران‌های هوایی عملی می‌شد. در نتیجه‌ی این استراتژی، مردمان محل به ناچار یا مجبور به فرار از خانه‌های شان می‌شدند و یا باید زیر بمباران روزانه، مرگ را می‌پذیرفتند. بمباردمان‌های نامشخص در نواحی و اطراف شهرها، رنگ و شکل کار معمولی را به خود گرفته بود در اوائل دهه ۱۹۸۰ میلادی بیشتر پناهندگان به کشور پاکستان اظهار داشته‌اند که به دلیل بمباران‌های هوایی هجرت نموده‌اند. افغانستان در نتیجه‌ی بمباردمان‌های نامشخص به قبرستان تجاوز به حقوق بین‌الملل مبدل گشته بود. مکمِّل این استراتژی استفاده از خاد (ارگان استخباراتی وقت) بود که برای جمع‌آوری اطلاعات در میان گروه‌های مجاهدین نفوذ می‌نمود. هر چند ارزیابی موفقیت نفوذ خاد در میان مجاهدین دشوار است اما بر این اتفاق نظر وجود دارد که نفوذشان در میان اکثر گروه‌های مجاهدین دارای موفقیت بوده است. خاد در آن زمان با تقلید از KGB شوروی تنظیم شده بود که با استفاده از مقیاس وسیع خود به قتل‌های عام بدون محکمه، توقیف و شکنجه نمودن افراد مظنون می‌پرداخت. سازمان اطلاعاتی خاد تمام کسانی را که به مخالفت با رژیم متهم بوده و خواستار اصلاحات بودند أعم از دولت‌داران پیشین، رهبران مذهبی، رهبران قومی، معلمان، روشنفکران و فعالان سیاسی را هدف قرار می‌داد. جنایات جنگی کمونیست‌ها را مثنوی هفتاد من کفایت نخواهد کرد؛ اما مهم‌تر از همه اینکه شوروی نیز پس از متحمل شدن خسارات ذیل، از افغانستان اخراج شد.

در مجموع ۱۴۴۵۳ تن کشته داشت که ۹۵۰۰ تن در درگیری‌ها، ۴۰۰۰ تن به اثر جراحات و ۱۰۰۰ تن در اثر بیماری جان باختند. البته دولت وقت افغانستان نیز ۱۸۰۰۰ کشته داشت.

# د دلوې ۲۶مه زموږ راتلونکی نسل او یو څو خبرې!

م حماد افغان شیرزاد

افغانستان د زبرځواکو او امپراتوریو په هدیره شهرت موندلی او دا یو روڼ حقیقت هم دی چې افغان ولس تل د میړانې او فداکارۍ کردار اداء کړی؛ خو دښمنان او تجاوزګر یې نه دي پریښي چې دا خاوره اشغال او تر خپل تسلط لاندې راولي.

په معاصر تاریخ کې په پرله پسې توګه د امپراتوریو ماتول پرته له شکه یو ستر ویاړ او افتخار دی چې الله تعالی افغانانو ته ورکړی او پرې پیرزو کړی یې دی، چې هم یې د خپلې ټولنې لپاره او هم یې د سیمې او نورو اسلامي هیوادونو لپاره یو څه د ارام ساه اخیستلو زمینه مساعده کړې. برتانیا/ انګلستان چې په دغه سیمه د یو تور ښامار په څیر مسلطه وه، د فزیکي اشغال تر څنګ یې فکري اشغال ته هم مخه کړې وه، خو د افغانانو/ زموږ د غور نیکونو د جهاد او مقاومت په مټ چې تاریخ پرې شاهدي وایي له دې سیمې یې تغر ټول شو، لوی افغانستان لومړی آزاد، پسې د شرقي پاکستان او همداسې د هندوستان سیمې آزادې او برتانیا تر خپل هیواد محدوده شوه. نیکونو او پلرونو مو د شوري اتحاد د یرغل پر وړاندې بې دریغه قرباني ورکړې، «لوږې او تندې، هجرتونه او مسافرۍ، زندانونه او تکلیفونه او همدا راز د روسي سرو لښکرو هغه وحشتونه چې د تاریخ پاڼو کې ثبت دي» وګالل؛ تر څو په هیواد د آزاد بیرغ رپاند او ولسونه په ارامه فضاء کې ژوند وکړي او د پردیو له کلتور، عنعناتو او رواجونو وساتل شي او پر خپل پخوانې دیني، اسلامي او افغاني کلتور پاتې شي، روسان مات شول د افغان میړني ولس قربانیو رنګ راوړ او ولس د محکومیت له فضاء په لویه کې خلاص شو. لا رغیدلي نه ووو، چې امریکا او اشربانې یې چې د وخت د معاصر فرعون په څیر نعوذالله د انا ربکم الاعلی اواز پورته او پر دغه میړني او ځوریدلي ولس، «چې لا یې د خپلو زخمونو څخه وینه نه وه پریمینځلې، لا یې ټپونه نه وه رغیدلي، لا یې په وجودونو هغه دردونه او کړاوونه پراته وو او لا یې د زرګونو شهیدانو د قبرونو خاورې نه وې وچې شوې» د لیونې سپي په څیر برید وکړ، د اشغال او تسخیر په نیت یې دلته په بیا ربړوونو او ځوروونو، ظلمونو او وحشتونو لاس پورې کړ؛ خو دې میړني ولس بیا هم د خپلو نیکونو او پلرونو په پل قدم کیښود او په تش لاس یې د عصري فرعون چې په ټیکنالوژۍ سمبال و، قربانۍ ته ودانګل او مقابله یې وکړه، بې دریغه قربانۍ ورکړل شوې، اخلاص او دیانت وښودل شو، د افغانانو ایثار د تاریخ زرین باب پرانیستلو او خپل تاریخ یې بیا هسک او بیرغ یې رپاند کړ، ناټو او اشرګر یې مات او افغانان بیا آزاد شول.

هوکې؛ موږ بیا بیا آزادي واخیستلې، د هر وخت او عصر تر ټولو زورور دښمن دلته په ګونډو شوی، چې ان شاءالله تل به همداسې یو، خو د دغه آزادیو ساتل افغانانو ونه شو کړای، فکري اشغال تل په دوی اثر وکړ، پردي کتلور او عنعناتو دوی مجروح کړل، پر لکونو قربانیو خلکو سترګې پټې کړې او زرین فرصتونه یې له لاسه ورکړل. لوی لامل یې دا و چې موږ د خپلو اتلانو تاریخ ثبت نه کړ، کله چې پر واکمنۍ شو شهیدان مو هیر شول، قربانۍ، تکلیفونه او زحمتونه مو له یاده ووتل، تر نوي نسل پردیو چې فزیکي اشغال یې موږ مات کړی و، خو فکري اشغال یې تر خلکو ورسولو، سرایت یې وکړ، د امان الله، تره کي، ببرک کارمل او نجیب په څیر لنډغرو زموږ د قربانیو ځای ونیولو، ولې چې هغوی ته تبلیغ وشو، شاهکاران ترینه جوړ شول، لیکنې پرې وشوې، خو هغوی چې د جهاد ریښتیني اتلان وو، برتانیا او روس یې مات کړ، نن ګمنام دي، د خالص بابا په څیر د نوموتو په ځای نن د نجیب ګاو او لنډغر یادونه کیږي، د جهادي اتل جلال الدین حقاني په ځای نن د نورو یادونه کیږي، چې د تأسف ځای دی.

دا چې اوس فرصت په لاس راغلی، راځئ خپلو ولسونو او ځوان نسل ته د خپل زرین تاریخ او د اتلولیو شاهکاران وروپیژنو، د پردي فکر او کلتور راوړونکي ورته روښانه کړو، پردی فکر ورته د ژبې او قلم په زور باطل ثابت او خپل روڼ فکر ورته واضح کړو، خو لا هم کار نشته، پر خپلې واکمنۍ لګیا یو، خو فکرونه نه رغوو، فکري اشغال تر سلو فزیکي اشغالونو بتر دی.

د ځوان نسل دو یښتابه په هیله.

# د سلواغې ۲۶مه؛ په خپلواکۍ کې د ازادۍ ورځ!

**عنایت الله خاموش**



کابو ۴۴ کاله پخوا( د ۱۳۵۷ لمریــز کال) د غوایي پر اوومه؛ په افغانستان کې د پخواني کمونیستي شوروي اتحاد لاسپوڅو (افغان کمونیستانو)، چې د خلق و پرچم تر نامه لاندې یې د کمونیستي مفکورې د ترویج لپاره فعالیــت کاوه، د یوې کودتاه په صورت کې واک ترلاســه او د وخت د واکمن ســردار محمد داوود خان په شهیدولو ســره یې، په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد مستقیمې مداخلې او لاسوهنې ته زمینه مساعده کړه.
کله چې د غوایي د اوومې د کودتاه له لارې کمونیســتان واک ته ورســېدل، له همغه وخته یې د دین دوسته او اسلامپاله افغانانو په شــهیدولو، زنداني کولو او شــکنجه کولــو لاس پورې کړ. خلک+پرچم( افغان کمونیستانو) چې د خلق په رأس کې تره کی او د پرچم په رأس کې کارمل و، نه یوازې دا چې د افغان ملت په ربړولو او شهیدانولو یې لاس پورې کړی و؛ بلکې د افغاني فرهنګ و عقیدې د له منځه وړلو او افغان نسل د ګمراه کولو لپاره یې هم په ښه جوش او ولوله کار کاوه.
دوی پرته له دې چې دا وسنجوي، افغانان هیچاته په خپله خاوره د تېري کولو او همدارنګه د اسلامي عقیدې د له منځه وړلو اجازه نه ورکوي؛ د خپل فکر د ترویج لپاره ډېر په چټکۍ کار روان کړی و او هر هغه څوک یې وژل چې د دوی مفکورې ته به نه تسلیمېدل. همدا سبب شو چې افغان عیرتي ملت یې په وړاندې را پورته او د دوی په وړاندې یې مبارزه یې پیل کړه.
د افغاني کمونیستانو په وړاندې د افغان مجاهد ملت د مبارزې کال لا پوره شــوی نه و، چې دوی هم د خلق و پرچم په نوم د یو-بل د محوه کولو پلانونه په لاره واچــول او په دې جریان کې تره کی د خپل وفادار شــاګرد ( حفیظ الله امین) له لوري تر وژل کېدو وروسته امین واکمن شو. خو د امین لا د واکمنۍ کمه موده نه وه وتلې چې د دوی اصلي بــاداران ترې زړه توري او د وخت تبعید شــوی کارمل یې د خپلو سرو لښکرو په ټانکونو سپور د کابل تر زړه راورســاوه او له نن څخه ۴۳ کاله پخوا د پخواني کمونیستي شوروي اتحاد سرو او خونخورو لښکرو د ۱۳۵۸ کال د مرغومې په ۶مه په افغانســتان مستقیم یرغل وکړ او د امین په وژلو سره یې واک کارمل ته وسپاره او له دې وروسته نه یوازې افغان کمونیستانو افغانان شهیدانول؛ بلکې د وخت سرو لښکرو هم له افغان وژنې خوند اخیست.
هیواد ته د ســرو لښــکرو له راتګ ســره جوخت افغان وژنې لا زور واخیســت. چې په مقابل کې یې افغان غیرتي ولس هم په پوره مېړانه مبارزه قوي او هر ځای یې په ســرو لښــکرو او د دوی په ګوډاګیانو ځمکه ســره تبۍ وګرځوله. افغــان ملت د وخت د کمونیستي اشغالګرو په وړاندې کابو ۹ کاله په پوره مېړانه او د زیاتو قربانیو په ورکولو سره ټینګه مبارزه وکړه. په دې موده کې سره له دې چې افغان ملت ســتر زیان ولید او د سرونو بې شمېره قرباني یې ورکړې؛ مګر د دوی بې شمېره قربانیو او ټینګ هوډ په دې وتوانول ترڅو سرې لښکرې له هیواد څخه شړلو ته اړ کړي.
بالاخره د افغان ملت د قربانیو پایله وه چې د ۱۳۶۷ لمریز کال د سلواغې په ۲۶ مه د وخت زبر ځواکه سرې لښکرې له افغانستان څخه په بشپړه توګه وشړل شوې. نه یوازې دا چې په دې نېټه دوی له افغانستان څخه وشړل شول؛ بلکې د افغانانو د هوډمنې مبارزې پایله وه چې د وخت اتحاد جماهیر شوروي یې په کوچنۍ روسیه بدل کړ. په افغانستان کې د شــوروي له ماتې وروسته د شوروي زیاتې مستعمرې ترې بېلې او د برلین دیوال را ونړیده چې ختیځ او لوېدیځ آلمان یې له ۲۸ کلن بېلتون وروسته بیرته سره ونښلول.
د ســلواغې ۲۶ مه په داســې حال د ۳۴ ام ځل لپاره په افغانانو دا ورځ راځي، چې په بشــپړه توګه هم له جګړې، هم له پردیو تېریو او مداخلو، هم له ملک الطوایفي حکومتونو او هم له فســادګرو په امان دی. نن افغانان په داســې حال کې د شوروي اشغالګرو د شړلو او خلاصون ورځ( د سلواغې ۲۶ مه) لمانځي، چې اتلس میاشتې مخکې یې د نړۍ یو بل زبر ځواک هم له خپلې خاورې شــړلی( یعنې په خپلواکۍ کې د ازادۍ ورځ لمانځي) او له شل کلنې مبارزې وروسته یې په افغانستان کې یو اسلامي و خپلواک نظام رامنځته کړی.
هوکې! نن افغانان په داســې حال کې له هیواد څخه د شــوروي اشــغالګرو د شــړلو ورځ لمانځي، چې لــه ۴۴ کلنې جګړې، ګډوډیو، خودســریو، بې وزلیو او نورو ناخوالو څخه په امان او یو نوی فصل یې پیل کړی. نن ورځ افغانستان وروسته له ۴۴ کلنې جګړې تر یوه قیادت لاندې راغلی، په ټول هیواد باندې اسلامي نظام حاکم او له ټولو بهرنیو لاسوهنو په امان دی.
نــو افغان ملت باید له تېر ۴۴ کلن ناورین او جریان څخه عبرت واخلي او هیچا ته اجازه ورنکړي، ترڅو په یوه- بل نامه او تر یوه- بل شعار لاندې یو ځل بیا افغانستان د نړیوالو استخباراتو د لوبو میدان جوړ کړي. افغانان باید نور هوښیار و اوسي چې که دا ځل یې دا چانس له لاسه ورکړ او خپل استقلالیت یې په ښه توګه ونه ســاتو او په یوه تغر ســره را ټول نشول؛ نو بیا به هیڅکله هم د یوه سوکاله او پر ځان بسیا افغانستان څښتنان ونه اوسي.

# له افغانستانه د سرو لښکرو د تېښتې ورځې په پلمه

**شاه محمود درویش**

د تاریخ پــه اوږدو کې د نړۍ هر یرغلګر د افغان ولس پر وړاندې ماته خوړلې.
افغــان ملت د تاریخ پــه اوږدو کې تل د پردیــو زورواکو او ځان غوښتونکو یرغلګرو له بی رحمه، ناروا او د هرراز انساني اصولو او ارزښتونو پر خلاف له وحشي تاړاکونو سره مخامخ شوی، خو تاریخ شــاهد دی چې باتورو افغانانو تل د ملي یووالي په عالي روحیه او د هیواد پالنی په ځانګړي احساس سرښندونکې مبارزې کړې او د پاک الله ((ج)) په مرسته، فضل او کرم سره یې د یرغلګر دښــمن پر وړاندې تل بری موندلی دی، البته د روان لمریز کال یې په دله ییزه توګه په کندوکې وغورځول اود بلدوزرو په وســیله یې تر خاورولاندې کړل، په افغانســتان کې داسې کلی او سیمه پاتې نه شوه چې د شوروي اتحاد زغره والو ټانکونو او جیټ الوتکو حمله او یرغل نه وي ور وړی، خو لکه څنګه چې د افغانســتان مسلمان او قهرمان ملت مرګ ته د غلامۍ له ژوند څخه ترجیح ورکوي، نو دغو وحشیانه او عامه وژنو د دوئ د ایمان او سرښندنې په ولولو کې هیڅ ډول سستي رانه وستلې شوه او د سرو یرغلګرو په مقابل کی یی دخپل هیواد د آزادۍ لپاره یو نیم میلیون شهیدان ورکړل او په میلونونو نور افغانان معیوب او یتیمان شول، دغه راز یی



د سلواغی میاشتی شپږویشــتمه نېټه چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال دفبروري له ۱۵ مې نیټې ســره برابره ده، په افغانســتان کی د سرو لښــکرو د ماتی او له دغه هیواده د تیښــتی له ورځی سره سمون خــوري، ځکه چې له نــن څخه ۴۳ کاله وړانــدی د (۱۳۵۸) لمریز کال د مرغومی په شپږمه نیټه چې د (۱۹۷۹) کال د دسمبر له ۲۷ می نیټی سره برابره ده د پخواني شوروي اتحاد سرولښکرو هــم د انګریزانو د یرغل په څیر د هــوا او د حیرتانو او تورغونډۍ له لاری پر افغانســتان یرغل کړي و، خو د افغانستان مسلمان او پر آزادۍ مین ملت سراســري پاڅون وکــړ او د هجرت او جهاد لاره یی غوره کړه. د شــوروي اتحاد وحشي لښکرو ددې ملت په بمبارولو او عامه وژنو لاس پورې کړ، په زرګونو بېګناه مسلمانان کلي او کورونه په کنډوالو بدل شول، ټول اقتصادي تاسیسات یی له منځه ولاړل، خو بیایی هم خپل سپیڅلي جهاد ته تر هغو پورې ادامه ورکړه چې د شوروي سرولښکرو ماتی وخوړه او له افغانستان څخه یی د تیښــتی لاره غوره کړه. د افغانستان له سپیڅلي جهاد څخه د محکومو ولسونو د آزادۍ مدرسه جوړه شوه، د نړۍ په نقشه کې د شوروي اتحاد نوم ورک شو، د لینین مجسمه رانسکوره شوه، د جرمني هیواد مرکز د برلین ښار په خیټه کې د ختیځ او لویدیځ جرمني په نامه درول شوي دیوال ونړول شو او له درې څلویښتو کلونو راهیسی د روسیی له حاکمیت نه وروسته د چکوسلواکې د خلکو پاڅون روســي تسلط ته د پای ټکي کېښود، لنډه دا چې نړیوال په دې وپوهېدل کوم ولس وژنه چې په خپله غلامۍ ته غاړه کې نږدې هیڅکله هم په زوره غلامي پری نه شي تپل کېداي. اوس شوروي اتحاد ورک شوي، خو افغانستان لا ژوندي دي او د افغانانو په زړه کې د اسلام ژوند بخښونکي روح چلیږي، ښکېلاکګرو که د تاریخ په اوږدوکې په دی اسلامي او آزاده خاوره هر څومره یرغلونه وکړل، خو په پاي کې یرغلګر نیست او نابود شول او افغانستان د یو اسلامي او آزاد هیواد په توګه سرلوړي پاتی شو او څو چې دا دنیا ودانه وي افغانستان به ژوندي وي، البته دایو رښتیني واقعیت دی چې افغان ویاړلي ولس د تاریخ په اوږدو کې تل د پردیو زورواکو او ځان غوښتونکو یر غلګرو له بی رحمه، ناروا او د هرراز انساني اصولو او ارزښتونو پر خلاف له وحشي تاړاکونو سره مخامخ شوي ، خو تاریخ شاهد دي چې باتوروافغانانوتل د ملي یووالي په عالي روحیه او د هیواد پالنی په ځانګړي احساس سرښندونکې مبارزی کړې او د پاک الله (ج) په مرسته، فضل او کرم سره یی د یرغلګر دښــمن پر وړاندی یې تل بري موندلي دي، بناءً پاک خداي (ج) دی تل ګران افغانستان آباد، ودان، سمسور، ښیرازه او ژوندي ولري.
البته په دی کې هم هیڅ شک نه شته چې د افغانستان د پرمختګ دښمنان لا هم هلی ځلی کوي ترهغو چې دبی اتفاقی په اچولو سره د هیواد د پرمختګ مخه ونیســی، خو موږ باید تل هوښیار بیدار او با تدبیره واوسو او په بشپړی هوښیاری او بیداری سره دغه هیواد هغه ځای ته ورسوو، چې خلک یې غوارې ځکه زمونږ ګڼ شمیر هیوادپالو افغانانو ددغه هیلو دتحقق په خاطر خپلی وینی نذرانه کړی او شهیدان شویدی او دافغان ولس د هوساینی په موخه زموږ شهیدانو هم په دغی لاره کې خپلی وینی تویې کړیدی، بناً دوخت غوښتنه هم داده اوروان حالت هم داایجابوی چې باید ټول افغانان په پوره همغږۍ، یووالی او د هیواد پالنی په لوړه او عالی روحیه له هر ډول توپیرونو پرته یوازی او یوازی د یو سپیڅلی افغان په توګه خپلی هلی ځلی یو موټی کړی او په دی توګه هیواد او هیوادوالو ته ترقي، پرمختګ، نیکمرغی او هوساینه ور په برخه کړی، ځکه دتاریــخ په اوږدو کې افغان پتمن ولــس تل له مختلفو ناورینونو څخه ځان ژغورلی او بری ته رسیدلی دی چې واقعاً دا یې د ملی یووالی او بشپړ اتفاق زیږنده وه ، بناً راځي چې دټولو پتمنو افغانانو تر منځ چې د ګران افغانستان د ښکلی ګلبڼ راز راز ښایسته ګلان دی د ملی یووالی او ملی پیوســتون لوړه او عالی روحیه پیاوړی کړو چې له امله یې دا ویجاړ افغانســتان ودان شــی او ځوریدلو افغانانو ته هم بشــپړه هوساینه او هراړخیزه نیکمرغی ور په برخه شي.

# د تېرو نکلونه راتلونکو ته پندونه!!

**جبرئیل سعد**

دا چې شــوروي څرنګــه، د څــه لپاره، لــه کــوم بنــدره پــر کــوم پلــه را واوښــت او دلتــه یــې څــه وکــړل، څومــره یــې وکــړل، څرنګــه یــې وکــړل، لــه چــاسره او د چــا پرمــټ...؟؛ نــو دا او د پایلــو پــه ګډون یــې ډېــر نــور د تاریــخ د تــورو ورځــو یــو ځانګــړی بــاب دی او پــه یــاد یرغــل او د هغــه پــه پیــل-دوام پــورې اړه لــري چــې پــه بیــا بیــا لمانځنــه کــې یــې پــرې ډېــر څــه ویــل شــوي او ویــل کېــږي بــه، خــو ماتــې یــې بیــا زمــوږ پــر افغــان جهــاد او د هغــه پــه دوام، افغــان ولــس قربانیــو، ښــو پایلــو او ویاړونــو پــورې اړه لــري چــې د لمانځنــې یــې همــدا د دلوې۲۶ مــه ورځ ده، البتــه کــه د افغــان ولــس او مجاهدینــو بــې دریغــه سرښــندنې او بــې ســاري قربانــۍ د شــوروي پــر وړانــدې زمــوږ د جهــاد بریــا، زمــوږ پــر وړانــدې بیــا د شــوروي ماتــې او د ګــډې پایلــې پــه توګــه یــې د دلوې۲۶ مــې نېټــې حجــم ښــیي، هغومــره یــې د وخــت بــې مخینــې شــوروي یرغــل ځینــې اړخونــه هــم ښــیي، نــو ځکــه د دلوې۲۶ مــې لمانځنــې د شــوروي یرغــل د تــورو ورځــو ځینــې یادونــې هــم رانغــاړي. پــه ګــران هېــواد کــې د شــوروي د ماتــې او پــه ټولــه اشــغال کــړې نــړۍ کــې یــې د بشــپړې ماتــې د پیلامــه ورځــې پــه توګــه د دلــوې شپږویشــتمه زمــوږ پــه تاریــخ کــې زمــوږ د هغــه ځانګــړي دنــګ ویــاړ پــه حیــث ثبــت شــوې چــې بیــا یــې تکــرار تــه د یــو قطبــې نــړۍ شــل کلــن صلیبــي اشــغال ماتــې هــم ونــشي رســیدلی، ونــه رســېده او نــه بــه بیــا هــم تکــرار ولــري او لــه همــدې املــه لا پــر وخــت دلتــه د شــوروي ماتــې د هــر ډول اشــغالونو او یرغلونــو د بشــپړې حتمــي او یقیني ماتــې شــاهدي ویلــې، تاریــخ یــې تر ټولــو کــره او ځواکمــن مســتند دی او بایــد د کالیــزو پــر لمانځنــې یــې پــه تاریــخ کــې لا نــوره هــم روښــانه او وځلولــه شي، ترڅــو پــوره نــکل یــې د هــر وخــت نړیوالــې، ځــان تــه د نــړۍ لومــړۍ رتبــه او یکــه تــاز ځــواك ویونکــې امپراتــورۍ او پــه ټولــه کــې هــر یرغلګــر او زمــوږ ګــران هېــواد تــه پــه بــده ســترګه کتونکــو لپــاره لګــه چــې دی؛ همغســې یــو ســتر او بربنــډ عــبرت وي او تــر څنــګ یــې د همــدې لمانځنــو لــه لارې وخــت پــر وخــت لــه تجربــو، پالیســیو، د کمــزورۍ او ځواکمنــۍ نقطــو او ورتــه لــه پــام اوښــتو ګټــه پورتــه کــړای شــو. پــر ګــران هېــواد مــو د شــوروي سرو لښــکرو یرغــل نړیــوال او یــا کــم تــر کمــه د نــړۍ ختیــځ هژمــون او ســلطه دواړه بلــلای او دا پــر قاطعیــت ســره ویــلای شــو چــې د دغه یرغل فکــر تــر ډېــره پــر ســیمه ییــزو او نړیوالــو دوه لوریزو(کمونیزم-کپټالیــزم)او ټکــر فکرونــو، سیاســتونو او پالیســیو ولاړ و او همداســې یــې پــر وړانــدې افغــان جهــاد هــم لــه یــادو سیاســتونو او پالیســیو اغېزمــن و، خــو بیاهــم نــه پکــې دغــو فکــري او ســیاسي قطبونــو او نه یــې هــم ټکرونــو او تقابل تــه هیــڅ پاملرنــه شــوې وه، بلکــې د دغــه تقابــل او ټکــر پــه منــځ کــې د هېــواد معضلــې یــو دریــم او یواځــي ایډیالوژیــك تعامــل رامنځته شــوی و چــې لــه مخــې یــې لــه دغــې معضلــې سره چلنــد هــم عقیــدوي و، خــو کــه ســیاسي و؛ هغــه یواځــې دا چــې پــه شــعوري ډول او هــم پــر لاشــعورۍ د جګــړې راتلونکــی د هغــې پــر ښــکېل یــو اړخ پــورې تړلــی و، دې سیاســت افغــان جهــاد تــه د کمونیــزم او کپټالیــزم ترمنــځ د جګــړې بڼــه ور کــړه. د شــوروي لــه ماتــې سره ســم د فرانســیس فوکــو یامــا او ســمویل هنټیکنټــن لخــوا د کپټالیــزم ماتــې نــه منونکــې او تلپاتــې بریــا اعــلان او د هنټیکنټــن صراحــت چــې وایــي: له کمونیــزم وروســته یواځې اســلامي تمــدن کــې لــه کمپټالیــزم سره د ټکــر وړتیــا پاتــې ده؛ همــدا پــه ګوتــه کــوي، خــو پــه خواشــینۍ چــې افغانانــو پــر ســیاسي تعامــل بــاور نــه درلــود، ترڅــو د عقیــدې ترڅنــګ لــه معضلــې سره ســیاسي چلند هم وکــړي او لــه لوېدیځــه هغــه پــور واخلي چــې شــوروي تــه پــه ماتــې ور کولــو کــې یــې پــوروړی شــوی و، نو ځکــه د شــوروي لــه ماتې وروســته نــه یواځــې یــاد اړخ تــه د لاســوهنې فرصــت رامنځتــه شــو، بلکــې متلاشي قیــادت او ډلــه بــازۍ ځپلــی ملــي یــووالي او د ســیاسي رهبرۍ نــه شــتون هــم دغــه لاســوهنه لاپســې لازمــي ګرځولــه چــې وروســته که څــه هــم د اســلامي امــارت واك پــه راتلــو دغــه تشــه مــخ پــر ډکېــدو وه، خــو چــې لوېدیــځ هــم د خپــل دغه فرصــت پــه وروســتیو کــې و؛ ډکېدو تــه یــې پرېنښــوده او د ترهګــرۍ پــر نــوم چــې موخــه یې بشــپړ اســلام و؛ زمــوږ پــر ګــران هېــواد یــې یرغــل وکــړ او لــه نېکــې مرغــې لــه شــوروي سره پرتلــې تــه نــږدې لــه شرمــه ډکــې ماتــې سره خــبره بېرتــه د هنټیکنټــن دې ټکــو تــه ودرېــده چــې یواځــې پــه اســلامي تمــدن کــې د کپټالیــزم د ټکــر وړتیــا شــته. د شــوروي د ماتــې نــکل کــه د صلیبــي یرغلګــرو لپاره یــو پنــد و چــې ګټــه یــې تــرې پورتــه کــړې وای، زمــوږ لپــاره هــم د پند ترڅنــګ یــو ســتر ویــاړ دی چــې د یرغلونــو پرورانــدې تــرې ګټــه واخلــو او دا دی د کمونیــزم پــر نظریــه ولاړ شــوروي د ماتې۳۴مــه کالیــزه اوس پــه داســې حــال کــې لمانځــو چــې د کمپټالیــزم نظریــې صلیبــي یرغــل مــو هــم مــات کــړی، د ورسره کــړي جهــاد راتلونکــی مــو هــم یواځــې د اســلامي تمــدن پــه چــوکاټ کــې خپلواکــه داعیــه وه او لــه پردیــو سیاســتونو او پالیســیو لــه اغېــز پرتــه یواځــې د هغــو تــر منــځ تقابــل او تضــاد څخــه پــه ګټــې اخیســتنې لــه معضلــې سره د چلنــد محــور مــو د عقیــدې ترڅنــګ ســیاسي تعامــل هــم و چــې پــرې تــر بریــا راغلــي یــو، خــو دا چــې پــه نــږدې او لــرې تېــر پســې مــو بیــا هــم کمونیــزم او کپټالیزم غــبرګ د اصلــي دښــمن پــه توګــه پېژنــي او تــرې لــه ماتــې خــوړو سره بیا ښــه خاطــره هــم نلــري؛ نــو پــه ګــډه پــر ســیاسي-امنیتي، ډیپلوماټیکــو، اقتصــادي او نــورو ډګرونــو یــوه داســې فکــري تبلیغــاتي فضــا را منځتــه کــول غــواړي چــې د اړونــدو نظریــو بأیللیــو موخــو تــه پــرې تــر ممکنــې کچــې ورســېږي او سره لــه دې چــې لاهــم یــې اوکرایــن د ګرمــې جګــړې تــود ډګــر دی؛ د نــوي افغانســتان او اســلامي امــارت پــر وړانــدې یــې دریځونــه ډېــر سره نــږدې او پــه ډېــرو مــواردو پــه ځانګــړې توګــه دلتــه پرمختګونــو او بشــپړ امنیــت بانــدې ســترګو پټولــو کــې یــې پلمــې هــم سره ورتــه برېښــي، نــو پــکار ده د اړونــدو موضوعاتــو پــر تــړاو د بــې پرې سیاســت او رښــو پالیســیو پــر خپلولــو ټولــې هڅــې پــه کار واچولــې شي، ترڅــو پــه دام کــې لــه راتلــو یــې خونــدي او امــن افغانســتان، افغــان ولس او د اســلامي امــارت د تلپاتــې ښــېرازۍ څښــتن وي.

**د شوروي په سرو لښکرو د مجاهدینو د بریا ۳۴مه کلیزه مو مبارک شه**

# ۲۶ دلو روایت افتخار آفرین مردم افغانستان

**اسفندیار**

اگر تاریخ پر بار افغانستان را مرور کنیم متوجه فراز و فرودهای زیادی خواهیم شد و دیده می‌شود که این سرزمین خسته از جنگ هر از چندگاهی تاخت و تازهای زیادی را تجربه کرده است. اما مردمان این مرز و بوم هر بار از پس حوادث با موفقیت سر بلند کرده و دشمنان تا به دندان مسلح را شکست داده وصفحات افتخار افرین را در تاریخ ما رقم زده اند.

یکی از این افتخارات زرین و فراموش نشدنی، پیروزی مردم افغانستان در مقابل اتحاد جماهیر شوروی وقت است. ساکنان این خطه در در ۲٦ دلو ۱۳٦۷ با دستان خالی، حماسه آفریدند و متجاوزان را از کشور بیرون راندند. بی‌گمان یکپارچگی، وحدت و عقیده دینی و ایمانی مردم، نقش بزرگی را در پیروزی مردم افغانستان داشت.

از سوی دیگر این شکست برای شوروی در ابعاد اقتصادی، انسانی و وجهه بین المللی بسیار سنگین تمام شد. در این پیروزی اقشار مختلف مردم از گوشه و کنار کشور، زن و مرد، پیر و جوان، سرمایه دار و فقیر و از هر طبقه که بودند، سهم گرفتند و این افتخار را بدست آوردند که پیامدهای جبران نا پذیر را به جماهیر شوروی سابق به همراه داشت.

آنچه که پای شوروی سابق را در افغانستان کشاند در نخست ترویج و گسترش تفکر کمونستی و حمایت از اعضا و انجمن‌های مرتبط آنها در سطوح جهانی بر اساس اعتقاد که میان کمونستها در سراسر جهان وجود داشت، بود. و با این تعریف، شوروی به خاطر حمایت و نجات از حکومت کمونیستی که در افغانستان در سراشیبی قرارداشت، وارد کشور شد. چون وقتی که مردم در ولایت های مختلف افغانستان علیه حکومت زیر چتر شوروی سابق اقدام کرده بودند و بیشتر مناطق را از تحت کنترول شان خارج کرده بودند، حکومت مرکزی به شدت ضعیف شده بود.



در سوی دیگر افغانستان یکی از کشورهای است که دارای منابع غنی اقتصادی است. منابع معدنی و ذخایر زیر زمینی کشور، یکی از فرصت های مهم اقتصادی به شمار می رود که در تهاجم کشورهای بیرونی نقش داشت و نظر به موقعیت استراتیژیک هم افغانستان در یک نقطه حساس و مهم قرار دارد که دشمنان بیرونی همواره در تلاش کنترول آن و در اختیار گرفتن منابع و ذخایر زیرزمینی آن بوده است. در مجموع عوامل‌های مختلف سبب شد تا شوروی سابق به کشور لشکر کشی کند و با و جود اینکه این جنگ برای مردم افغانستان چقدر گران و طاقت فرسا بود اما درس بزرگ به متجاوزین داد و پیامدهای جبران نا پذیر را متوجه حکومت وقت شوروی کرد. کلید شکست و فروپاشی نظام شوروی سابق از افغانستان رقم خورد و سبب شد تا بساط یک قدرت بزرگ جهانی برچیده شود.

با این حال یادهانی از بیست و ششم دلو فرصت آن را فراهم می‌کند تا یک‌بار دیگر جانفشانی‌های مردم افغانستان در اذهان عامه مشخصاً نسل جوان تکرار شود و سبب می‌گردد تا با واکاوی عوامل و پیامدهای جنگ های خونین درس های از تاریخ کشور گرفت و به نسل های بعدی منتقل کرد.

رامین باشنده کابل با اینکه جوان است و بعد از انقلاب به دنیا آمده است، میگوید که به قهرمانی‌های مردم افغانستان و پدرش که یکی از مجاهدین بوده و در برابر آن قدرت بزرگ ایستاده بودند افتخار می‌کند.

وی گفت: باید این روز را تجلیل کنیم و درود بفرستیم به روح آن شهدای که در این راه جان شان را از دست دادند.

وی میگوید: «در کنار آینکه ما نسل جوان باید از قهرمانی های گذشته خویش به خوبی استقبال کنیم اما خوب است ابعاد جنگ های گذشته را نیز بیشتر به بررسی بگیریم. ما به خوبی و قهرمانانه دشمن را شکست داده ایم اما اثرات جنگ و ویرانی آن زمان تا هنوز دامن گیر مردم است. متاسفانه یکی از پیامد های خطیر تجاوز شوروی به خاک افغانستان، افزایش یا حتی آغاز مهاجرت های میلیونی بود که تا هنوز دامنگیر جوانان است. با آمدن شوروی هزاران جوان، کارگر، تحصیل کرده، انجنیر و داکتر کشوررا ترک کردند و مهاجر شدند. پیامد دیگر این جنگ نسبتا طولانی از بین رفتن، زخمی و معلول شدن صدها هزار هموطن ما بود.»

به گفته رامین، در زمان جنگ کارخانه ها و صنایع تعطیل و کارگران و انجنیران یا فرار کردند و یا کشته شدند. این بزرگترین صدمه اقتصادی به زیربناهای کشور بود که سبب بیکاری مردم شد. پیامد دیگر اقتصای این حمله، از بین رفتن زراعت در کشور شد؛ از آنجایی که افغانستان از نظر زراعتی و تولید گندم به خصوص و پنبه به خودکفایی و حتی صادرات رسیده بود، اما این جنگ سبب شد تا بیشتر تولیدات گندم نابود شود و دهقانان یا کشته یا مهاجر گردند.

وی افزود، ما درس بزرگ شجاعت به جهانیان دادیم، متجاوزین را چندین بار از کشور با خفت بیرون کردیم و از پس هر امتحان به موفقیت بیرون شدیم ولی متاسفانه مزه شرین پیروزی را کمتر چشیدیم و پس از آن چهل سال افغانستان در آتش جنگ سوخت. مردم ما خوشبختانه یک بار دیگر هم برای جهان ثابت کرد که که درس بزرگ به متجاوزین میدهد و سال گذشته یکی دیگر از قدرت های بزرگ جهان را از این خاک بیرون کردند. بناً اکنون که کشور آرام است فرصت خوب فراهم شده تا دست به دست هم داده با یکپارچگی و اتحاد به آبادی و مرهم گذاشتن بر زخم های این سر زمین تلاش کنیم .

با این همه، پیروزی مردم افغانستان در مقابل شوروی، پیام های بسیار بزرگ دارد؛ مهمترین پیام آن، حفظ برادری و اخوت است که اگر مردم متحد باشند و دارای یک انگیزه و نیروی قوی، در مقابل هرگونه دشمنان و متجاوزان خطرناک، پیروز میدان استند.

# د سلواغې ۲٦ مه او د وږي ۹ مه د افغان ولس د خپلواکۍ ورځې

**جاوید فدائي**

د ۱۳۵۸ کال د مرغومي پر ٦ مه سرو لښکرو د افغانستان پر حريم د ټولو نړيوالو اصولو خلاف تیری وکړ، ترڅو تودو اوبو ته ځان ورسوي او افغانستان د تل لپاره خپله مستعمره وګرځوي. شورویانو غوښتل چې نړۍ یو قطبي شي د افغانستان له نیولو وروسته خپله هیژماني نورو هیوادونو ته وغځوي، ترڅو ټوله نړۍ د شوروي تر واک لاندې شي.

باید وویل شي چې د شورویانو پالیسي ټوله په زور باندې څرخېدله، د هرې ستونزې حل لپاره خپل زور باندې غرّه ول. بالآخره له کابو لس کلن یرغل وروسته یې د خپلو ناوړه سیاستونو او سر زوریو پایله په خپلو سترګو ولیده. د شوروي جمهوري یووالي نه یوازې دا چې افغانستان کې ناکام شو، بلکې خپل تابوت یې د افغانستان په لاس ځان ته جوړ کړ، چې پایله کې له اتحاد جماهیر شوروي نه مسکو جوړ شو.

په هر صورت له لس کلن یرغل وروسته د افغان ولس میلیوني قربانیو په پایله کې شورویان په ۱۳٦۸ کال کې د سلواغې په ۲٦ مه د ګران افغانستان څخه په تیښته بریالي شول. د شورویانو له ماتې وروسته افغان ولس د خپلو بې ساري قربانیو ثمرو ته سترګې په لار و ترڅو د تېرې لس کلنې مبارزې له لوړو او تندو وروسته یو سپیڅلی اسلامي نظام قائم کړي چې د ټولو افغانانو حقوق او عزت پکې خوندي وي.

متأسفانه د لس کلنې مبارزې رهبرانو د افغان ولس د سوکالۍ پر ځای خپلو ګټو ته اولیت ورکړ او د واک په سر یې خپلمنځي شخړې سره پیل کړې. د خپلمنځي شخړو په اور باندې ګاونډیانو او د سیمې استخباراتي کړیو پټرول وپاشل چې بالآخره افغانستلن کې هر ګوند د بل پر وړاندې دریځ ونیوه، ترڅو د واک په ګدۍ کیني. لنډه دا چې د روسي یرغلګرو پر وړاندې د مبارزې رهبرانو د افغان ولس ارمانونه په سیند لاهو کړل او یوازې د خپلو شخصي ګټو په تلاش کې ول. همغه و چې د دوی د ناکام سیاست له وجې افغانان د الله تعالی له لوی نعمت څخه محروم شول او افغانستان د خپلمنځي جګړو، د سیمیزو او نړیوالو قوتونو لپاره د بزکشۍ په لوبغالي بدل شو.



د ۱۳۸۰ کال د تلې میاشتې ۱۵مه د افغانستان تاریخ کې د مرغومې د ٦ مې په شان بله توره ورځ ګڼل کیږي، چې دا ځل د نړۍ بل سوپر پاور امریکا افغانستان باندې یرغل وکړ. امریکا د شوروي له تېروتنو درس وانخیست او غوښتل یې چې د مرکزي آسیا د کنټرول لپاره افغانستان د تل لپاره خپله مستعمره وګرځوي. دا چې افغان ملت هیڅکله د غلامۍ ژوند نه خوښوي او د آزادۍ ترلاسه کولو لپاره هر ډول قربانۍ ته تیار دی، نو په همدې اساس افغان ولس یو ځل بیا د امریکا پر وړاندې هر اړخیزه مبارزه پیل کړه. د امریکا پر وړاندې د افغانستان مبارزه د روسي یرغل په نسبت دوه چنده اوږده شوه، بالآخره له شل کلنې مبارزې وروسته افغانان وتوانېدل چې امریکا ته هم د شوروي په شان د خپل سر کاسه کې اوبه ورکړي. امریکا له شل کلن یرغل وروسته دا حقیقت درک کړ چې افغانستان کې یې نور پاتې کېدل د سر په قیمت ورته تمامیږي، بالآخره د ۱٤۰۰ لمریز کال د وږي په ۹مه یې له افغانستان څخه پښې سپکې کړې او ټول ځواکونه یې وویستل.

د امریکا له شرمونکې او تاریخي ماتې وروسته افغانانو ته یو ځل بیا طلایي چانس په لاس ورغی، ترڅو د خپلې مبارزې ثمره ترلاسه کړي. که څه هم امریکا، اروپا او په ځانګړي ډول د افغانستان سیمه ایز حریفان پدې تمه ول چې د امریکا له وتلو وروسته به یو ځل بیا افغانان خپلمنځي جګړو کې ښکېل شي او د دوی لپاره به اوبه خړې شي ترڅو خپل ماهیان پکې ونیسي.

الحمدلله دا ځل افغانانو د روسي یرغل پر وړاندې د مبارزې له تېروتنو عبرت واخېست، د شخصي ګټو پر ځای یې ملي ګټو ته ارزښت ورکړ چې بالآخره د امریکا، اروپا او د سیمې د هیوادونو ټولې سناریوګانې یې غلطې ثابتې کړې.

اوسنی افغان سرپرست حکومت دا ځل د یو خپلواک او په خپلو پښو درېدلي افغانستان لپاره هلې ځلې پیل کړي دي. که څه هم تراوسه افغانستان له یو شمېر سیاسي او اقتصادي بندیزونو سره لاس او ګریوان دی، مګر بیا هم تراوسه د چا غوښتنو او لاسوهنو ته نه دی ټیټ شوی، ترڅو د روسي یرغل له بریا وروسته تېروتنې تکرار کړي او بهرنیو کړیو ته د لاسوهنو زمینه مساعده کړي.

د یادونې وړ ده چې اوسنی افغان حکومت یو قوي او مرکزي حکومت دی، د نویمو لسیزو په شان د ګوندونو د خپلمنځي شخړو احتمال هم ختم شوی دی. که څه هم یو شمېر ستونزو سره لاس او ګریوان یو، ان شاءالله دا به هم د وخت په تېرېدو سره ختم شي. ځکه چې د ځلورو لسیزو جګړو ختمول او اختلافونه له منځه وړل د یوې او دوه ورځو کار نه دی، دا چې د اصلاح او بیارغونې جدي اراده شتون لري دا خپله مونږ ته د راتلونکي ځلېدونکي افغانستان زیری راکوي.

# د دلو ۲٦ او زموږ مسؤلیتونه

**مولوي نورالحق مظهري**

دا یقیني خبره ده چي د سلواغې ۲۶ د مجاهدینو د اتلولۍ او افغانانو د بریالیتوب ورځ ده او د باطل په وړاندې د حق د اوچت کېدلو څرک دی.

پدې ورځ کي د مسلمانو شهیدانو وینو، د مجاهدینو ستړیاوو او د افغانانو کړاوونو رنګ راوړ او د وخت زبرځواک شوروی یې د غریبو افغانانو په وړاندې په ګونډو کړ.

د دلو ۲۶ هغه تاریخ جوړوونکې ورځ ده چي افغانانو د نړۍ په کچه د دویمي لویې امپراطورۍ د ماتولو ریکارډ په همدې ورځ خپل کړ او د وخت قطبي شوروی یې د ګران افغانستان څخه وشړی.

زموږ مسؤلیتونه:

۱ – موږ باید یواځي ددې ورځي په لمانځلو او پدې ورځ کي په رخصتۍ کولو بسنه ونکړو بلکي دا ورځ د ټولو اړخونو سره د خپل آینده نسلونو په فکرونو کي د ګڼو لارو څخه ژوندۍ وساتو تر څو هغوی هم د خپلو نیکونو پر قدمونو پښې کښېږدي او د هر یرغلګر په وړاندې د خپلو نیکونو په څېر ودریږي.

۲ - ددې ورځي ټولي ظاهري او باطني برياوي وپېژنو او د ساتني کوښښ یې وکړو؛ پدې ورځ کي نه تنها دا چي په فزیکي ډول روسان د افغانستان څخه وشړل شول بلکي د روسانو پلویانو خلقیانو او پرچمیانو ته هم د خطر زنګ او د دوی د منحوسي غلامي واکمنۍ د پای پیل وو ځکه نو موږ باید خپل ولس د روسي او کمونیستي فزیکي او فکري اشغال په خطرونو خبر کړو او د ولس هر وګړي ته د دوی په وړاندې د مبارزې هر اړخیزه انګېزه ورکړو.

۳- دا معلومه خبره ده چي روسانو د ځانه سره کفري فکر هم راوړی وو تر څو زموږ مسلمان ولس ته یې تزریق کړي او د کمونیزم تر سیوری لاندې یې د ارتداد لوري ته یوسي خو الحمدلله خپلې دې موخي ته و نه رسېدل.

زموږ افغانان باید پدې باندې خپل سر خلاص کړي چي لکه د روسانو وتل چي د هر افغان وظیفه وه د روسي فکر ختمول او هیواد ورڅخه پاکول هم د هر افغان وظیفه ده ځکه نو موږ باید د ټولو هغه فکرونو او باورونو په وړاندې مبارزه وکړو چي د هیواد خپلواکۍ، مسلمانۍ، رښتیني آبادۍ او ایماني ترقۍ لپاره ممکنه او بالقوه خطر وي او په فکري او سیاسي ډګر کي داسي اصلاحات راولو چي د هیواد څخه مو د فکري او سیاسي انحراف ټغر په پوره توګه ټول سي.

٤ - دا یقیني خبره ده چي د روسانو په وړاندې د افغانانو مبارزه د وطن او دین د ساتني لپاره وه ځکه نو موږ ته دا لازمه ده چي د وطن او دین ساتنه مو هر وخت په لومړیتوبونو کي وي او په ټولو هیوادوالو کي د وطن دوستۍ او دین دوستۍ روحیه پیدا کړو تر څو زموږ هر وګړی د دین په چوکاټ کي هم وطن وساتي او هم یې جوړ کړي.

۵ - که څه هم د روسانو وتل د افغانانو لپاره لویه نیکمرغي وه خو له بده مرغه چي د هغوی د وتلو وروسته د ځینو قدرت طلبو لخوا د جهاد آرمانونه د خاورو سره خاوري شول او جهادي موخي د قدرت او چوکۍ په نښه شا ته وغورځول سوې ځکه نو هیواد د قدرت په جزیرو و وېشل سو او هر چیري خپل مینځي جګړې پیل سوې چي په نتیجه کي د روسانو د وتلو وروسته اسلامي نظام هم جوړ نسو او هیوادوالو هم د آرامۍ ساه وا نه خیستله خو الحمدلله د طالبانو د اسلامي تحریک راتګ د خپل مینځي جګړو او احتمالي تجزیې آفتونه د افغانستان څخه ورک کړه او د اسلامي نظام په جوړولو سره یې د مسلمانو افغانانو د هیلو غوټۍ ګل کېدلو ته نژدې کړې؛ موږ ټول افغانان باید د تېرو حالاتو څخه پوره عبرت واخلو او بیا ځلي داسي شرایطو ته زمینه برابره نکړو.

۶ - زما نظر دا دی چي د هیواد په تاریخ کي باید د انګریزانو، روسانو او امریکایانو د بریدونو ورځي په سور قلم ولیکل سي او توري ورځي وبلل سي خو د دوی د ټولو د وتلو ورځي بیا په زرغون قلم ولیکل سي او سپیني ورځي وبلل سي.

۷ - اوس چي الحمدلله په هیواد کي سوچه اسلامي نظام حاکم دی ټول افغانان یې په وړاندې دا مسئولیت لري چي ددې اسلامي نظام سمبالول د ځان دنده وبولي، ساتنه یې د آینده لپاره د ځان ایماني وظیفه وبولي او په عمل کي دا خبره ثابته کړي چي همدغه نظام زموږ د درو وارو جهادي مبارزې ثمره او نتیجه ده په هیڅ صورت کي یې د لاسه نه ورکوو.

# د سلواغې ۲۶
# هغه ورځ چې سره پکې خړ شول!

ليکونکی: الحاج غلام جيلاني (حق پرست)



کله چې د ۱۳۵۷ هجري لمريز کال د غوايي د مياشتې په ۷ نېټه د خلق او پرچم کمونست باندونه د يوې خونړۍ کودتا په پايله کې واک ته ورسېدل، نو ددې پرځای چې د هېواد اقتصاد، اداري، اردو، ملکي چارو او د هېواد پرمختګ ته ملاوتړي، د هېواد رنګولو، هېوادوالو نيولو، ترلو، شړلو او وژلو ته يې کار وواية؛ تر هر څه وړاندې يې له دين او اهل دين سره بربنډه دښمني پيل کړه، په سلګونو زره ديني علماء، مشايخ، ملي او قومي مخور شخصيتونه، فني او مسلکي کدرونه يې اسيران او په شهادت ورسول؛ او په ميليونونو هېوادوال يې د خپل کور کلي او هېواد پرېښودلو او هجرت کولو ته اړ کړل.

خو کمونيزم ته د چوپړ او له اسلام سره د دښمنۍ په سيالۍ کې ددوی لنډ مهالي ياراني هم ډېر ژر اور واخيست دوی که څه هم په څرګنده خپل بانډيستان نوک او ووری بلل خو په واقعيت کې چاړه او غوښه ول او ډېر ژر يې له يو بل سره دښمني ډاګيزه شوه، په پايله کې د کارغل په شمول د پرچم باند مهمې څېرې له مرکزي قدرت څخه لرې او بهرنيو هېوادونو ته د سفيرانو په حيث ولېږل شول، دوی هم زياترو يې په بهر کې د افغانستان د سفارتونو شتمنۍ لوټ او د پخواني شوروي لمنې ته پنا يووړه.

د خلق او پرچم ترمنځ پر اختلاف سربېره د خلق په باند کې هم مخالفتونو او ترېګنيو سر را پورته کړ، چې په نتيجه کې يې امين ډېر ژر لاس په کار شو، د تره‌کي پر خوله يې بالښت ورکېښود او ځان يې دده له شره بې غمه کړ.

د خلق او پرچم ډلګيو ترمنځ دښمني او ترېګنۍ، چې کمونيزم ته د چوپړ په پار يې لهٔ يو بل سره د دوو بنو په څېر سيالي کوله، له يوې خوا او د الحاد او اشتراکيت په خلاف په ټول هېواد کې د خپلو ديني علماو تر رهبري لاندې د ولس وسله وال قيام او جهادي عمليات له بلې خوا ددې باعث شول، چې روسان ووېرېږي، هسې نه چې د پورتنيو يادو مواردو له کبله په افغانستان کې د کمونيزم لپاره د دوی شيندل شوی تخم له منځه ولاړ شي، د دوی د کلونو کلونو سرمايه ګذاري اوبه يوسي؛ او د هند سمندر ګرمو اوبو او د فارس خليج سيمې د طبيعي منابعو په تېره بيا د توري طلا د لاس ته راوړلو پخوانی خوب يې بې تعبيره پاتې شي. نو د ۱۳۵۸ هـ ش کال د مرغومې د مياشتې په ۶ نېټه يې د ځمکې او هوا له لارې په افغانستان باندې يرغل وکړ. د پلازمېنې کابل په شمول يې د هېواد لوېشت لوېشت ځمکه تر اور لاندې ونيوله، د وخت تش په نوم ولسمشر حفيظ الله امين يې په خپل استوګنځي کې ووژه، خپل يو بل غلام (ببرک کارمل) يې د بيواکه واک پرګډۍ کېنا وه، د هيواد په ټولو مهمو ولايتونو کې يې خپلې قواوې ځای پر ځای کړې.

هو! روسانو د خپلو لاسپوڅو (افغاني کمونستانو) په مرسته افغانستان ونيو، دا چې وروسته څه وشول د روسي اشغال او يرغل په وړاندې افغانانو څه ډول غبرګون وښود، دا به وروسته وګورو تر هغې وړاندې بايد د داخلي کمونستانو ساده‌ګي، غباوت، د روسانو په هکله تر حد زياتې خوش باوري او حماقت په هکله يواځې د دوو ټکو يادونه وکړو. لمړی دا چې د جدي له ۶ نېټې وړاندې روسانو د افغانستان د اشغال لپاره خپل پلان بشپړ کړی وو. په ټولو ملکي او نظامي ادارو کې يې د KGB روزل شوي جاسوسان د مشاورينو په نوم ځای پر ځای کړي وو. خپلې درنې او مدرنې وسلې يې افغانستان ته رسولې وې، خو د کابل په فضا کې به چې روسي ميګ الوتکو الوتنې کولې نو افغاني کمونستانو به په ډېر وياړ سره ويل چې: (افغانستان د وارسا ترون له غړو هېوادونو څخه وروسته لمړنی هېواد دی، چې دغه ډول مدرنې او مجهزې الوتکې لري) خو په دې نه پوهېدل چې د افغانستان په فضا کې د دغو روسي الوتکو الوتنه له ځان سره د دوی (کمونستانو) د مرګ پيغام لري او تر هر چا وړاندې به د دوی خونې او حکومت رنګوي. دوهم: د هغه وخت د مطبوعاتو د ليکنو لهٔ مخې چې کله روسانو د حفيظ الله امين په مقر باندې حمله وکړه، او ډزې پيل شوې نو حفيظ الله امين چې د روسانو له يوې بلې تلکې (تسمم) څخه روغ وتلي وو.

د ډزو په اورېدلو سره په داسې حال کې چې سېروم يې په لاس کې وو، دهليز ته راووت؛ پوښتنه يې وکړه، چې دا ډزې د څه شي دي؟ ګاردانو يې ورته وويل چې په مونږ باندې حمله شوې ده، حفيظ الله امين ورته وويل چې شوروي دوستانو ته خبر ورکړئ له هغو څخه مرسته وغواړئ.

ساتونکو يې ورته وويل چې خو حمله شورويانو را باندې کړې ده، امين خورا خپه او ديوال ته کښناست لږ شېبه وروسته شوروي عسکر دهليز ته ورننوتل، الحاد، اشتراکيت او شوروي دوستانو ته د خوش خدمتۍ له امله يې خپلې ګولۍ د وروستي مکافات په توګه د امين په سينه کې سرې کړې؛ او په دې ډول امين هم لکه چې وايي (د پاړوګر مرګ د مار له لاسه وي) د هماغو شوروي دوستانو په لاس خپل بد برخليک ته ورسېده. هو! روسانو پر افغانستان باندې يرغل وکړ، پر افغانانو يې هر ډول وژونکې وسلې وآزمويلې يو نيم ميليون افغانان يې شهيدان په سلګونو زره انسانان يې معيوب، اسير او په ميليونونو يې هجرت ته اړ کړل.

پر افغانستان باندې د پخواني شوروي يرغل ټوله نړۍ ولړزوله، په ټوله نړۍ کې د (نفسي نفسي) وضع حاکمه وه. ټوله سيمه او نړۍ د ځان په وېر اخته وه، د سيمې او نړۍ هېوادونو د دوهم نړيوال ابر قدرت يعنې امريکا سترګو او خولې ته کتل، خو د امريکا غبرګون هم ډېر عجيب وو، ويل يې: موږ به روسانو ته اجازه ورنکړو چې د افغانستان له خاورې د باندې پښې وغځوي، يعنې دا چې افغانستان خو مو د خولې ګوله ده، مونږ څه نه پکې وايو؛ خو له افغانستان څخه د باندې د اشغال د پړي اوږدولو او جال خورولو اجازه نه ورکوو. لنډه دا چې په ټول جهان باندې د وېرې فضا حاکمه وه، دوی په دې باور وو، چې شوروي کوم هېواد ونيسي هغه خو د تل لپاره د شوروي امپراطوري د قلمرو برخه ګرځي. خو دا اشغال به تر افغانستان پورې محدود نشي بلکه نورې نړۍ ته به هم وغځېږي، بلې خواته د افغانستان مجاهد ملت وو، چې د خپل دين، هېواد، او استقلال د ساتنې په لاره کې يې هر ډول ستونزو (شهادت، اسارت، معيوبيت او هجرت ته) خپله غېږه پرانستې وه، خپل جهادي عمليات يې د روسانو په مقابل کې لا زيات منظم، منسجم او ګړندي کړل، پر روسانو باندې يې د افغانستان ځمکه سره تبۍ کړه، د هغوی ټول پلانونه يې شنډ او خوبونه يې معکوس ثابت کړل.

هو! روسان په افغانستان کې تر نهه کاله اشغال، له ۱۵ زرو څخه تر شلو زرو عسکرو له لاسه ورکولو، درې سوه سرتيرو تر ترېتم کېدو له شلو تر دېرشو زرو عسکرو تر معيوبېدو، د سلګونو چورلکو او الوتکو نسکورېدو، زرګونو نظامي وسائطو او ټانکونو له منځه تلو او شپيته ميلیارده امريکايي ډالرو معادل اقتصادي زيانونو تر زغملو وروسته دې ته اړ شول چې له افغانستان څخه پښې سپکې کړي. بيا هغه وو، چې سترګو هغه څه وليدل او غوږونو هغه څه واورېدل چې چا يې اټکل هم نه کاوو.

او هغه ورځ راورسېده چې سور مخي، خړمخي او تورمخي شول. هغه دا وو، چې د ۱۳۶۷ هـ ش کال د سلواغې مياشتې په ۲۶ نېټه وروستي روسي عسکر په افغانستان کې د روسي قواوو قوماندان (جنرال ګروموف) د آمو سيند پورې غاړې د پخواني شوروي امپراطوري خاورې ته په تېښته بريالی شو. چې دا د شوروي کمونيستي امپراطوري په ۷۰ کلن تاريخ کې لمړی ځل وو چې د سره پوځ په تنده د رسوا ماتې تور داغ ولګېدهٔ او نړيوالو يې ننداره کوله.

هو! روسان تر څه زيات نهه کاله اشغال وروسته له افغانستان څخه وتښتېدل، افغانستان يې وران او ويجاړ کړ، خو په نتيجه کې دوی هم ښه ورځ ونه ليده، نه يواځې دا چې افغانستان يې له لاسه ووت بلکه د افغانانو د اتلوال مقاومت څخه په الهام اخيستو د پخواني شوروي د مستعمرو خلک هم ددوی په خلاف راپاڅېدل، يو په بل پسې يې د شوروي له استعماري امپراطوري څخه د بېلېدو او خپلواکي اعلانونه وکړل؛ او په نتيجه کې يې دغه پراخه امپراطوري ۱۵ ټوټې شوه او ور سره د کمونيزم پوچه او له خدای ج څخه د انکار مفکوره هم په ابدي مرګ محکومه او پخپله زانګو کې تر چړې تېره شوه.

هو! لکه چې ومو ويل د پخوانې شوروي سور پوځ په افغانستان کې مات او عصري، جنګي ماشين يې فلج شو. افغانستان خو يې ونه نيولای شوای، خو خپله امپراطوري يې رنګه او د تل لپاره له منځه ولاړه.

نړيوالو يو ډېره غېر متراقبه پېښه يا په نورو ټکو کې د شلمې ميلادي پېړۍ معجزه د سر په سترګو وليده. که د دغه تيري او اشغال او افغان مجاهدينو وسله وال برحق جهاد وارزوو؛ نو لاندې پايلې ته رسېږو.

-د جګړې ګټل يواځې په مادي او بشري ځواک پورې منحصر نه دي؛ بلکه ددې لپاره يوې پر حق ولاړې ايډيالوژي او کلک هوډ ته اړتيا ده، يا په لنډو ټکو کې جګړه د ماديت نه؛ بلکه د معنويت په زور ګټل کېږي.

-د نړۍ هيڅ بشري ځواک ماتې نه منونکی نه دی، بلکه د برحقې مبارزې په مقابل کې حتماً ماتې خوري.

-هغه څوک چې د پرديو سره لاس يو او د خپل کور، کلي، هېواد، استقلال ديني مقدساتو او ملي وياړونو پر سر معامله ورسره کوي؛ نو د بادار د ماتې او بريا په دواړو صورتونو کې دوی په اصطلاح د پيپسي د بوتل له برخليک سره مخ او په ډېران غورځول کېږي.

-خپلواکي په سوال، زاريو، لاريونونو، پرلتونو، پر امن جدو جهدو(!) او عدم تشدد(!) سره هيڅکله نه ترلاسه کېږي؛ بلکه دا کار قيام، وسله، وينه او قرباني غواړي.

-که هر څوک د افغانستان د نيولو او د افغانانو د اېلولو خيال لري، نو مونږ ورته وايو چې له مقدوني سکندر، چنګېز، انګرېز، صفويانو، روسانو، ناټو او امريکايانو څخه دې درس واخلي او د امپراطوريو په هديره کې دې ځان ته قبر نه لټوي. د هغوی د خپل ځان خير او مصلحت په دې کې دی، چې د افغانانو له احساساتو سره دې لوبې نه کوي، دا ولس لوږه، تنده، بې کوري او مرګ مني خو بلواکي ته په هېڅ بيه غاړه نه ږدي.

دا ولس پر خپل دين، خاوره او خپلواکي مين ولس دی. او د خپلواکي، ملي حاکميت او ارضي تماميت د دفاع په لاره کې د نړۍ د بل هر ملت په پرتله په مراتبو زياته تجربه لري.

# د شوروي يرغل ماته د دلوې ۲۶مه په ټول هېواد کې ونمانځل ...

هغه زياته کړه: آزادي د الله (ج) په نصرت او د ملت په واسطه ترلاسه کېږي، خو ساتل يې د يوه هېواد په مشرانو پورې اړه لري چې دغه ټکي ته بايد زياته پاملرنه وشي. دغه راز د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خليل الرحمن حقاني په خپلو خبرو کې ووېل: ۲۶ د دلوې، دا هغه ورځ ده چې د افغانستان خلکو په زياتو قربانيو او سرښندنو او د شوروي د سرو لښکرو په ماتولو سره آزادي ترلاسه کړه او تاريخ يې جوړ کړ؛ اوس موږ بايد د شهيدانو د پاکو وينو خيال وساتو.

حقاني څرګنده کړه چې اوس د يووالي او پيوستون وخت دی، ځکه افغانستان څو ځلې يرغلګرو ته ماتې ورکړې او آزادي يې ترلاسه کړې ده، خو مهمه دا ده چې اوس د ښې رهبرۍ پر مټ په هېواد کې اسلامي نظام وساتل شي. د غونډې په دوام، جهادي شخصيت استاد اکبري، ووېل: د افغانستان خلکو لپاره دوه موضوعات (اسلامي هويت او ملي خپلواکي) ډېر مهم او ارزښتناک دي چې افغانانو د دغو ارزښتونو د ساتلو لپاره څو ځلې خپل مالونه او سرونه قربان کړل.

په همدې ترتيب، د کابل والي شيخ محمد قاسم خالد په خپلو خبرو کې ووېل: اوسنی نظام د مقدسو وينو په بيه رامنځته شوی، خو اوس پايښت غواړي او د نظام ساتل، د مظلوم ملت خدمت کول او هېواد ته ترقي ورکول د جهاد يوه مهمه برخه ده. کابل والي، ځينو مهمو موضوعاتو ته په اشارې څرګنده کړه: د افغانستان ملت مسلمان او مجاهد ملت دی چې په خپلو هڅو او قربانيو سره اشغالګرو ته ماتې ورکړې او آزادي يې ترلاسه کړې ده. اوس د دې وخت دی چې په هېواد کې د اسلامي نظام ملاتړ او ساتنه وشي. د ملي دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد يعقوب مجاهد، د سلواغې ۲۶مه د هېواد په تاريخ کې يوه ډېره مهمه او تاريخي ورځ وبلله چې افغانانو وکولای شول په تشو لاسونو د پخواني شوروي سره لښکر په ګونډو کړي. هغه د افغانانو پر يووالي او يو بل زغملو ټينګار وکړ او څرګنده يې کړه: افغان ولس د هېڅ يو ځواک غلامي نه ده منلې او د نړۍ ستر ځواکونه يې مات کړي دي.

د مجاهد په وينا؛ هر هغه څوک چې د افغانانو د وېشلو هڅه کوي؛ بايد واوري چې افغانانو له تېرو حالاتو تجربه حاصله کړې او هېڅکله به د دښمنانو په پوچو تبليغاتو و نه غولېږي.

په همدې حال کې، د کار او ټولنيزو چارو وزارت معين، مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت ووېل چې افغانستان په وچه کې يو هېواد دی چې د ختيځو او لوېديځو هېوادونو ترمنځ د پل حيثيت لري او هغه هېوادونه چې د افغانستان د اشغال په فکر کې دي؛ يو لامل يې دا دی چې د دغه هېواد طبيعي زېرمو ته سترګې نيولې او بل يې جغرافيايي موقعيت دی. هغه زياته کړه: د افغانستان مجاهد ملت په ډېرو کمو امکاناتو د نړۍ سترو ځواکونو ته ماتې ورکړه او دا د افغانستان د تاريخ نه هېرېدونکې ورځ ده. د غونډې نورو ويناوالو هم د اشغال د ناخوالو او د افغانانو د بې سارو قربانيو او دغه راز د آزادۍ پر ښېګڼو خبرې وکړې او د افغانانو ترمنځ پر يووالي او د اسلامي نظام پر ملاتړ يې ټينګار وکړ.

د يادونې وړ ده چې ۳۴ کاله وړاندې په همدې ورځ (د دلوې په ۲۶مه) د افغانستان مجاهدو خلکو، له هېواده د اشغالګرو روسي ځواکونو د وروستي سرتېري په ايستلو سره، آزادي ترلاسه کړه چې دغه ورځ هر کال په هېواد کې د سترو غونډو په جوړولو سره نمانځل کېږي.

## شعر و ادب

## ترانـــې دميني

**حنيفه زاهد**

خدايه په زړه مي کړه سمسوري کروندې دميني
چي وهرچاته يې ور و وېشم مېوې دمينـــي
دا مروري ګل غوټۍ مي په خندا شي ورتــه
چي له بلبلو څخه واورم ترانې د مينـــــي
زه د غمو نو له ګر دونو دزړه مخ مينځمـــه
ته څوبې رنګه لپي راکړه له چينې دمينـــي
دزړه په تل کي مي فتنې په انګولاوو شولې
چي څوشبې مي کړې پربندي دروازي دميني
دوينو تږي پرې خبر کړئ چي توبه وباســي
چي لاخوړې ترانګبينو دي پيالې دمينـــــي
هغه شپونکی راته د مړو په کتار کي ښکاري
چي له شپېلۍ څخه يې نه راځي نغمې دميني
د غه دنيا جوړه په مينــه خو که مينــه غواړې
( زاهده ) ځان به ځاروې تر معشوقې دمينـــي

## زموږ د ستر کلي امامه!

**صبغت‌الله وصيل**

دې صفونو کې بې شمېره ناروغان دي، ناتوان دي.
شاته ښځې دې ولاړې، په ژړا سر ماشومان دي
د معاذ پر ځای ولاړه، لمونځ کوتاه کړه، لمونځ کوتاه کړه
څوک غوځوار نشي فتنو ته، ټول سوچه مسلمانان دي
په خلوت او شخصي ژوند کې که اوږدې اوږدې سجدې کړې
د حرج مخه به نيسې، درپسې چې مقتديان دي
په آدابو مستحبو زيات ټينګار کله پکار وي
ډېرو خلکو نه چې پاتې د لمانځه مهم ارکان دي
دا د مخکې صف ملګري ټول پاخه او باوري دي
اتباع او اطاعت کې کلک په تا پسې روان دي
انسانان يو سهوه کېږو، په غفلت کې خطا وځو
فتحه واخله، فقهاء دي د کتاب ستر عالمان دي
زموږ د ستر کلي امامه مقتديانو باندې پام کړه
دا صفونه که ټوټه شول، جوړول يې بيا ځل ګران دي

## غزل

**منصور**

يو بل ته ورکړئ د اخلاص او د وحدت لاســــونه
د اتفـــــاق او اتحاد د اخــوّت لاســــــونه
له مينځه و باســـئ د کــــرکې او نفرت لاسونه
پرګنو مات کــــړئ د پردو د شرارت لاســــونه
نور د ملـــــت په زړه کې تُخم د الفت وکــــــړئ
بس دی نور ټول کــــړئ د کينې او عداوت لاسونه
دلـــته تاجک دي ، که اوزبک ، که هـــزاره قومونه
سره پيوند کـــــړئ دا پاشلي د قومـــيت لاسونه
څوک چې د دې خاورې بچی وي که د هر قشر وي
هغه ته ښايي چې کړي پورې په خدمـــــت لاسونه
در لره بويه ای د وخــــــت حاکمه ! ښــه يې واوره
ولس په ســـر غواړي د مينې شـــفقت لاســونه
ملتـــــــــه پام که مو په دغه نـظام کبر وکــــــړ
درنه چاپېر به شي د ظلم او ذلــــــت لاســــونه
که مــــو ځــــانونه لهٔ غرور او غدر ؤ نهٔ ژغورل
منصـــــور درمــــــانه! بيا به مروړئ پهٔ قيامت لاسونه

## غزل

**سالمزی**

تورمي تور مخي سره مي سرو وينو کې رنګ وشړل
په متين عزم سپينه توره مي په جنګ وشړل
ما استکبار د جهاني ته امتحان ورکړي
څه په تورخم څه مي په ترو د سالنګ وشړل
که په ميوند کې شهيد نشوې د ملالې احساس
تو رزنو پيغلو مي فوځونه د فرنګ وشړل
اوس مي دا خپله ليلا بيا سينګاروم پخپله
ټول غمازان مي ګرد چاپيره له پالنګ وشړل
اسير ژوندون د غلامۍ حلقې زه کله منم
د بل برېخي مي يوه غړيوغورځنګ وشړل
تاريخ شاهد دی اعتراف پري هر دښمن کړی دی
استعمار ګرمي سالمزيه رنګارنګ وشړل

# افغان اعلانات

## اطلاعیه مفقودی

نکاح خط شرعی به اسم عبید الله فرزند محمد یوسف و محترمه مروه بنت حاجی شیر آغا مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۰۳۰

***

## اطلاعیه دعوت به داوطلبی

موضوع : اعلان داوطلبی قرار داد انتقال و تجهیز برق هوتل گل ارغوان شاروالی شهر چاریکار

بدین وسیله به تاسی از فقره ۲ ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم افراد و اشخاص رسانیده میشود. شاروالی شهر چاریکار در نظر دارد تجهیزات انتقال برق هوتل گل ارغوان را مطابق نقشه تخنیکی واقع تفریگاه گلغندی به داوطلبی بسپارد. بناء به اطلاع عموم سکتورهای دولتی خصوصی افراد و اشخاص واجد شرایط رسانیده میشود اگر خواهش داوطلبی را داشته باشند درخواست های خویش را جهت اشتراک در جلسه داوطلبی باز و اخذ آفر به ریاست شاروالی چاریکار بسپارند و خود شان الی مدت ۲۱ روز بعد از نشر اعلان غرض داوطلبی به ریاست شاروالی شهر چاریکار مدیریت خدمات و تدارکات به ساعت ۱۰ قبل از ظهر حاضر شرطنامه را ملاحظه نموده تضمین نقدا اخذ میگردد.۴۰۸۳

***

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم سید عبدالله فرزند سید حفیظ الله مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۱۲۵

***

## اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۴۲۰۳/۲۵۷۹ به اسم عبدالمتین باغبان فرزند عبدالشکور باغبان و محترمه پلوشه باغبان بنت شرف الدین مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۱۲۳

***

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم غلام فرزند میر حمزه مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۱۳۸

***

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز کار اتباع خارجی به اسم الین بودشر مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۱۲۶

***

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه سند ملکیت زمین دارای نمبر ۱۳۷۸٤ مورخ ۱۳۵۵/۹/۲٤ زمین واقع ناحیه ۱۵ خیر خانه به اسم امیر محمد خان فرزند تاج محمد مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۱۲٤

***

## اطلاعیه تغیر اسم دواخانه

محترم احمد ضمیر رسولی فرزند محمد موسی رسولی ولدیت عبدالوهاب دارنده تذکره نمبر ( ۴۵۸۳۸-۱۰۰۲-۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت کاپیسا مالک دواخانه بریالی واقع ناحیه یازدهم ولایت کابل عنوانی این اداره عارض وخواهان تغییر اسم دواخانه خویش از بریالی به اسم ابراهیم رسولی گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۳روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۴۱۴۱

***

## اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم عبدالعظیم فرزند عبدالحمید ولدیت عبدالاحد دارنده تذکره نمبر ( ۰۷۸۷۰-۰۱۰۰-۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک دواخانه سعد واقع ناحیه هفتم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم خواجه نادر شاه فرزند خواجه احمد شاه ولدیت خواجه تیمور شاه دارنده تذکره شماره ( ۳۰۳۸ ) مسکونه اصلی ولایت پکتیا گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۴۱۲۱

***

## اطلاعیه مفقودی

یک جلد جواز یک عراده موتر لندکروزر زرهی دارای نمبر پلیت ۳٤۸۶ موقت موسسات مربوط بنیاد معارف ترکیه در افغانستان مفقود گردیده بناء از اعتبار ساقط می باشد.۴۱۹۱

***

## اطلاعیه لیلام

۱–به تعداد (٤۹) عراده وسایط مختلف النوع داغمه.
۲–به تعداد (۷۲۵۸) قلم پرزه جات داغمه وسایط مختلف النوع.
۳–و به تعداد (٤۸۶۵) قلم افزار کار داغمه.

تحت نظر هیئت موظف به بلند ترین قیمت به نفع دولت در معرض لیلام قرار داده میشود. شرکت ها ، سازمان ها ، و اشخاص انفرادی که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند میتوانند به تاریخ ۱۴۰۱/۱۲/۲۳ ساعت (۹:۰۰) بجه قبل از ظهر به ریاست تنظیف شاروالی کابل واقع چهار راهی سر سبزی مقابل هوتل شام پاریس مربوط ناحیه چهارم تشریف اورده ، پانزده فیصد پول تضمین قبل از آغاز پروسه داوطلبی نقدا اخذ میگردد.۴۰۹۹

***

## اطلاعیه لیلام

۱–به تعداد (۱٤۵۷) حلقه تایر باب وسایط مختلف النوع داغمه.
۲–به تعداد (۵۳۸) دانه بطری جات مختلف النوع داغمه.

تحت نظر هیئت موظف به بلند ترین قیمت به نفع دولت در معرض لیلام قرار داده میشود.

شرکت ها، سازمان ها و اشخاص انفرادی که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند میتوانند به تاریخ ۱۴۰۱/۱۲/۱۶ ساعت (۹:۰۰) بجه قبل از ظهر به ریاست تنظیف شاروالی کابل واقع چهار راهی سر سبزی مقابل هوتل شام پاریس مربوط ناحیه چهارم تشریف آورده ، پانزده فیصد پول تضمین قبل از آغاز پروسه داوطلبی نقدا اخذ میگردد.۴۰۹۷

***

## اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

جواز شماره ( ۱۸۵۱) مورخ ۱۳/ ۹/ ۱۳۹۹ متصدی رهنمای معاملات غرجستان کابل واقع ناحیه ۱۰ شاروالی کابل به نام ویس الدین فرزند تاج الدین ولدیت شمس الدین خواهان فسخ جواز خویش گردیده است . بناء بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام ، بررسی و ثبت جمعیت ها و احزاب – وزارت عدلیه اطلاع دهند.۴۱۳۷

***

## اطلاعیه لیلام

قرار است وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث به تعداد ۵۰۳ باب کانتینر ۲۰ فوت کمک شده کشور خلق چین که از جمله ۲۰ باب آن واقع در ولایت ننگرهار میباشد را بفروش برساند، بناء تمام داوطلبان واجد شرایط میتوانند جهت دریافت مشخصات و معلومات از تاریخ نشر اعلان الی یوم لیلام که به تاریخ ۱۴۰۱/۱۱/۲۹ به ساعت ۲:۰۰ بعداز ظهر برگزار میگردد، به امریت تدارکات وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث واقع کوچه برج شهر آرا مراجعه نمایند، پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از پروسه داوطلبی نقدا اخذ میگردد. ۴۱۴۳

***

بدینوسیله به تاسی ازفقره(۲)ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت دفاع ملی درنظردارد. اعطاءقرارداد تهیه و تدارک ۱۱۲ قلم ظروف و لوازم تجهیزات مطبخ و طعام خانه ضرورت قول اردوی ۲۱۵عزم از بابت سال مالی ۱۴۰۱ از روش داوطلبی باز به شکل بالمقطع دارای نمبرتشخصیه : (MOD-1401-G-Q0025B-22702)

درلات هفتم قول اردوی ۲۱۵عزم به قیمت مجموعی مبلغ(۷,۹۵۹,۶۳۲) افغانی با شرکت لوژستیکی بهار آبی آدرس چهاراهی پروان سوم ، مرکز کابل. ذریعه امریه نمبر (۷۲۷۰) مورخ۱٤٤٤/۰۷/۲۱مقام محترم وزارت دفاع ملی منظور گردیده است . در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشراین اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طورکتبی توام بادلایل آن به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا بروفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکروطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

بدینوسیله به تاسی ازفقره(۲)ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت دفاع ملی درنظردارد. اعطاءقرارداد تهیه و تدارک ۱۱۲ قلم ظروف و لوازم تجهیزات مطبخ و طعام خانه ضرورت قول اردوی ۲۰۳منصوری از بابت سال مالی ۱۴۰۱ از روش داوطلبی باز نوع قرارداد بالمقطع دارای نمبرتشخصیه : (MOD-1401-G-Q0025B-22702)

درلات سوم قول اردوی ۲۰۳منصوری به قیمت مجموعی مبلغ(۶,۷۹۹,۸۳۱) افغانی با شرکت جبار متحده لمتید آدرس مرکز ننگر هار شهر جلال آباد.

ذریعه امریه نمبر (۷۲۷۱)مورخ۱٤٤٤/۰۷/۲۱مقام محترم وزارت دفاع ملی منظور گردیده است . در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشراین اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طورکتبی توام بادلایل آن به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا بروفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکروطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

بدینوسیله به تاسی ازفقره(۲)ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت دفاع ملی درنظردارد. اعطاءقرارداد تهیه و تدارک ۶ قلم ملحقات بستر ضرورت قطعات و جزوتام های قول اردوی ۲۰۵البدر از بابت سال مالی ۱۴۰۱ در یک لات (ازروش داوطلبی مقید نوع قرارداد چهارچوبی دارای نمبرتشخصیه :

**(MOD-1401-G-Q0106- 22705)** لات چهارم قول اردوی ۲۰۵ البدر به قیمت مجموعی مبلغ(۱۶,۵۵۰,۷۳۰) افغانی با شرکت مسعود عرفان لوجستیکی شرکت آدرس عرب وفا مارکیت ناحیه ۳ گولایی عربان شهر جلال آباد مرکز ننگر هار. ذریعه امریه نمبر (۷۲۷۲)مورخ۱٤٤٤/۰۷/۲۱مقام محترم وزارت دفاع ملی تایید گردیده است . در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشراین اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طورکتبی توام بادلایل آن به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا بروفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکروطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

بدینوسیله به تاسی ازفقره(۲)ماده چهل سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود وزارت دفاع ملی درنظردارد. اعطاءقرارداد تهیه و تدارک ۶ قلم ملحقات بستر ضرورت قطعات و جزوتام های مرکزی از بابت سال مالی ۱۴۰۱ در یک لات (از روش داوطلبی مقید نوع قرارداد چهارچوبی دارای نمبرتشخصیه : (MOD-1401-G-Q0106 -22705)

لات اول قطعات وجزو تام های مرکزی به قیمت مجموعی حد اکثر مبلغ(۹۵,۲۲۱,۶۸۳) افغانی با شرکت تجارتی ولوژستیکی مبارک ممتاز لمتید آدرس سرک چهار قلعه فتح الله مرکز کابل. ذریعه امریه نمبر (۷۲۷۳)مورخ۱٤٤٤/۰۷/۲۱مقام محترم وزارت دفاع ملی تایید گردیده است .

در صورتیکه اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را ازتاریخ نشراین اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طورکتبی توام بادلایل آن به ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی واقع خواجه بغرا بروفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکروطی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

## دعوت به داوطلبی

نام پروژه : تهیه و تدارک ۱۸۸ سیت مبایل های هوشمند جهت پیشبرد پروسه میترخوانی

د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (تهیه و تدارک ۱۸۸ سیت مبایل های هوشمند جهت پیشبرد پروسه میترخوانی دارای کود نمبر DABS/1401/NCB/G-32 اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد ها بدست آورده،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز چهار شنبه تاریخ ۲٤/حوت/۱۴۰۱ به ریاست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پزیرش نمیباشد .

۱–تضمین آفر : مبلغ 100,000AFN صد هزار افغانی
۲– آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز چهار شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۲٤/حوت/۱۴۰۱ برگزار میگردد.
۳–آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.
٤–جلسه قبل از داطلبی: ۱۳/حوت/۱۴۰۱
۵– آدرس اداره : د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۱۳۶۷۷

آدرس الکترونیکی : khaibar.tasang@dabs.af
hamed.kamal@dabs.af
saifurahman.o@dabs.af

***

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد پاک کاری کانال فابریکه تولید برق نمبر دوم غوری بغلان برشنا DABS/1401/NCB/W-004-Rebid شرکت ساختمانی و انجینیری عمران بهیج با جواز نمبرD-81690 و با داشتن محل اصلی شرکت{ سرک اول کارته مامورین مرکز کابل} به مجموعی قیمت به مبلغ ۱۸,۱۷۰,۸۷۰ افغانی اعطا نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت – دهمزنگ – کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

## اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، وزارت امور شهدا و معلولین در نظر دارد، لات اول و دوم قرارداد تهیه و نصب سولر سیستم و ایجاد پاور بانک برای مرکز و دفاتر ولایتی سیستم جدید الکترونیکی دارنده نمبر تشخیصیه **MMD/1401/RB/W-03** خویش را به شرکت عادل فیضی لمیتد دارنده جواز نمبر (۲۶۰۳۳) و محل اصلی تجارت عقب سیلو مرکزی، مرکز–کابل به قیمت مجموعی ذیل:

لات اول: مبلغ (۱,۷۲۰,۳۲۰) یک میلیون و هفتصد و بیست هزار و سه صد و بیست افغانی؛ لات دوم: مبلغ (۳,۳۰۲,٤۰۰) سه میلیون و سه صد و دو هزار و چهار صد افغانی؛

اعطاء نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهدا و معلولین واقع {سرک میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط} وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

## اطلاعیه تصمیم اعطا ی قرار داد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل وسوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود که وزارت زراعت، آبیاری ومالداری در نظر دارد تا پروژه تدارک ٦ قلم آفت کش های مختلف النوع زراعتی ریاست حفاظه نباتات وقرنطین تحت داوطلبی مقید داخلی با کود نمبر MAIL/PD/NLB/G93/ 1401 را به شرکت محترم **دوست رحمان لمیتد دارای جواز نمبر (27-1331)** به قیمت مجموعی مبلغ ۵,۱۶۵,۰۰۰ (پنج ملیون و یک صدو شصت وپنج هزار افغانی) اعطا نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشراین اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تهیه وتدارکات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری واقع کارته سخی، جمال مینه، وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده والی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرار داد منعقد نخواهد شد.

---

موضوع : در مورد اعلان داوطلبی تدارک یک قلم گاز مایع , دو قلم تیل دیزل و پطرول مورد ضرورت سال مالی ۱۴۰۲ اداره تنظیم امور زندانها.

اداره تنظیم امورزندانها از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی بازداخلی تدارک مواد محروقاتی برای سال مالی ۱۴۰۲ برای درج جدول ذیل این اداره اشتراک نموده شرطنامه آنرا از آمریت قراردادها، ریاست تدارکات اداره تنظیم امورزندانها ، اطاق نمبر ۱۱۸ منزل اول ، واقع ناحیه ۱۲ شهر کابل ، گارنیزیون مرکزی اداره تنظیم امورزندانها بدست آورده و آفر خویش را مطابق به شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طورسربسته ، بعد از نشراعلان الی ۲۱ روز تقویمی (راس ساعت معینه مندرج شرطنامه) به ریاست تدارکات این اداره ارایه نماید آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد .

| شماره | یک قلم گاز مایع | | دو قلم تیل (دیزل و پطرول) | |
|---|---|---|---|---|
| | لات ها | تصمین آفر | لات ها | تصمین آفر |
| ۱ | لات ۱ (کابل) | ۳۲۲,۰۰۰ | لات ۱ (کابل) | ۸۳۷,۰۰۰ |
| ۲ | لات ۲ (پروان ومیدان وردک ) | ۲۱۰,۰۰۰ | لات ۲ (پروان، کاپیسا و پنجشیر) | ۳۶۲,۰۰۰ |
| ۳ | لات ۳ (کاپیسا و پنجشیر) | ۳۰۷,۰۰۰ | لات ۳ (پکتیا، پکتیگا، خوست و لوگر) | ۶۰۵,۰۰۰ |
| ٤ | لات ٤ (ننگرهار و نورستان ) | ۲۱۷,۰۰۰ | لات ٤ (غزنی و میدان وردک) | ۲۰۹,۰۰۰ |
| ۵ | لات ۵ (لغمان و کنرها ) | ۳۰۷,۰۰۰ | لات ۵ ( ننگرهار، لغمان، کنرها و نورستان) | ۶۷۲,۰۰۰ |
| ۶ | لات ۶ (بامیان ، غزنی و دایکندی ) | ۳۶۰,۰۰۰ | لات ۶ (بدخشان، تخار و کندز) | ۵۳۶,۰۰۰ |
| ۷ | لات ۷ (پکتیا و لوگر) | ۲۷۱,۰۰۰ | لات ۷ (بلخ، سمنگان و بغلان) | ٤۱۲,۰۰۰ |
| ۸ | لات ۸ (پکتیکا و خوست ) | ۳۵۷,۰۰۰ | لات ۸ (جوزجان، سرپل و فاریاب) | ۱۹۰,۰۰۰ |
| ۹ | لات ۹ (کندهار) | ۲۵۰,۰۰۰ | لات ۹ (کندهار، هلمند، ارزگان و زابل) | ۸۰۸,۰۰۰ |
| ۱۰ | لات ۱۰ (زابل و ارزگان ) | ۲۹۰,۰۰۰ | لات ۱۰ (بامیان، دایکندی و غور) | ۳٤۸,۰۰۰ |
| ۱۱ | لات ۱۱ (هلمند ) | ۲٤۰,۰۰۰ | لات ۱۱ (هرات، فراه، بادغیس و نیمروز) | ۶۸۳,۰۰۰ |
| ۱۲ | لات ۱۲ (نمیروز و فراه ) | ۲۹۵,۰۰۰ | | |
| ۱۳ | لات ۱۳ (هرات ) | ۲۳۰,۰۰۰ | | |
| ۱٤ | لات ۱٤ (غور و باغیس) | ۲۹۵,۰۰۰ | | |
| ۱۵ | لات ۱۵ (بلخ ) | ۱۶۷,۰۰۰ | | |
| ۱۶ | لات ۱۶(سنمگان و جوزجان ) | ۳۲۱,۰۰۰ | | |
| ۱۷ | لات ۱۷ (سرپل و فاریاب) | ۳۶٤,۰۰۰ | | |
| ۱۸ | لات ۱۸ ( بدخشان و تخار) | ۳۹۵,۰۰۰ | | |
| ۱۹ | لات ۱۹ ( کندز و بغلان ) | ۳۱۳,۰۰۰ | | |

تضمین آفر به شکل تضمین بانکی (بانک گرنتی) مطابق مقدار مبلغ مندرج جدول فوق برای هرلات مربوطه بوده و جلسه آفرگشایی پروژه های متذکره با حضور داشت هیئت آفرگشایی و نمایندگان داوطلبان در ریاست تدارکات اداره تنظیم امور زندانها دایر می گردد.

## زموږ په تاریخ کې د خپلواکۍ تکراري ورځې ...

